Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای بسا ابلیس آدم روکه هست
پس به هر دستی نباید داد دست

# لارنس

## یا د افغانستان پیر کرم شاه

د یوه انګرېز له نظره

PROPERTY OF ARIC Established 1989

پښتو ژباړونکی: نجیب "کندهاري"

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ACKU


## د کتاب ځانګړتیاوې

د کتاب نوم: لارنس

مؤلف په انګریزي ژبه: ایډوارډ راینس

ژباړونکی په اردو ژبه: قاضي مشیرالدین

ژباړونکی په پښتو ژبه: عبدالقدوس نجیب کندهاری

د کمپیوټر چارې: ذبیح الله "وردګ"

د کمپوز ځای: میرزا خان او احمد زی کمپوزنګ سنټر
۲۰۸ نمبر کوټه. دوهم پوړ ګل حاجي
پلازه یونیورسیټي روډ پېښور، پاکستان
تلیفون نمبر ۸۵۳۵۴۹

د چاپ ځای: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز

د چاپ کال: ۱۳۸۲

د چاپ شمېره: (۵۰۰) پنځه سوه ټوکه

د پښتو ژباړې نېټه: ۲۳ جوزا ۱۳۳۹ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

اعوذ برب الناس، ملك الناس، اله الناس من شر الوسواس
الخناس الذی یوسوس فی صدور الناس من الجنته و الناس.

(آمین)

PROPERTY OF ACKU
11691

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱ برخه

# د پښتو ژبا ړونکي

## سریزه

دا کتاب ما د وطن دوستۍ د جذباتو د ژوندي کېدو په ملحوظ سره له اردو څخه ترجمه کړ او لوی غرض مې داؤ چې پښتانه ورونه د استعمارچیانو په ټګیو خبر شي او وپوهیږي چې دوی په څه چل ول سره د ویدو قومو پر اوږو باندې د مریی توب جوغونه ږدي کله ځانونه ورتېرونې خوا خوږي کړي او کله یې دوړو په څېر سره د مادیاتو په خوږو تېر باسي له نفاق او یو د بل له بدبینیو څخه یې په بېلو بېلو صوزتو استفادې کوي تور تکم و سپین ته متجددو قدامت پسنده ته غریب و بډای ته شعیه وسني ته. غلجي و دراني ته. مشروکشر ته داسې بد او منفور په نظر ورولي چې بیا یې اتفاق په هېڅ سره امکان نه لري دوی نه غواړي چې د خلکو زنګ وهلی فکرو نه دې د علم او پوهنې په صیقل سره رانه شي یا دې د آزادۍ غوښتلو احساسات وده په کې وکړي ولې چې په دې سره یې د سیاست منحوسه پرده څیرېږي او دا د استعماریت تود بازار یې پر یوه مخ سوړوالی پیدا کوي مقصد دا دی چې د وطن خواهو او روشن فکرو مخونه هروخت د دوی په بېرحمانه څپېړو سره شنه شوي او هغه زحمتونه یې پر راوستلي دي چې بیان یې دلته نه

کیږي او ځانته فصلو باب غواړي ایا تاسې ته دا نه ده معلومه چې د برطانیې د استعمار چې دولت جاسوسانو به څو عمر د مخه خلك په اسلامي دولتو کې د پیرانو یا ملایانو په بڼه سره تیرایستله؟ او یا په هند کې په پنډتان او په تبت کې به لایلاماکان نه شوه؟

په دغو ټګبو سره به یې خپل مقصدونه تر سره کوله او زیار به یې یوست چې خلك د مذهب او یا قومیت په تعصب سره وجنګوي کرنیل لارنس چې تاسې به یې په دغه کتاب کې سرګذشت په تفصیل سره ولولئ یو له دې ډول ملعونانو څخه ؤ چې د انګلستان د دولت ګټو د ساتنې په لار کې یې د لوکو بې ګاهو انسانانو وینې د اوبو په شان سره وبهولې په عربستان کې یې د ترکانو او عربو په میانځ کې انقلاب جوړ کړ. د افغانستان سرحدي سیمو ته د فساد بر پایه کولو په غرض راغی د هند مسلمانان او هندوان یې د تعصب په اور کې مکوټ کړه په ترکیه، روسیه، چین او جرمني کې به یې کله په اصلي صورت سره او کله به نقلي صورت سره پټ پټ تحرکونه کول.

پښتنو ته په کار دي چې د ملعون لارنس د جاسوسي ګذارشات په غور ولولئ او له هغه څخه پاینات واخلئ.

# لارنس

د آکسفورډ د ښار د کوم عالي پوهنځي د لوبو ډاګ دی هلکان ټول په بازیو بوخت لیدل کیږي چیغو او هی هی یې ټوله فضاء پر سر اخیستې ده هلته لیرې یو ډنګر هلك د دېواله سره کتاب مخې ته نیولی ولاړ دی په ډېر دقت او بشپړه توجه سره مطالعه کوي د کتاب شیرینو قصو او رنګینو ادبي عباراتو هومره خوندور کړي دي چې سره له دونی کړپو کړو په اوهی. هیه یې حواص وبلې خواته نه ګرزي ده نه یوازې نن بلکه هر وخت یې د خپل لوړ مقصد او نېك هدف (علم) په لار کې د نړۍ ټوله خوندونه. خوښۍ و ښادي پرې ایښې دي بېلــه اړې او مجبوریدلو څخه نه له چاسره ګرزي او نه کار لري تل یې دا عبارت د خولې ورد دی چې (د مقصد معشوقه بېله جګر خونیو او زیاتو ربړواو کړاو څخه چا ته په لاس نه ورځي)

د هومري ټینګې ارادې لرونکی انسان به په دونی کوچني والي کې ډېر کم پیدا کیږي چې د ټولګي والو د کتاب د چینجي د نوم ایښودلو او یا نورو الفاظو په اورېدلو سره یې ارادې ته هېڅ تزلزل نه پیښیږي بلکه په جواب کې یې وایي عزیزانو د مقصد تر رسېدو او د علم تر تحصیل لابله خوښې او ساعت تېرې شته؟ راشئ چې اوس زحمتونه وګالو کړاو او ربړوته ځانونه ورکړو هر وخت چې مو د علم و عرفان مزل په خېرو عافیت سره طی کړ بیا به نو خوښې کوو خاندوبه او د نړۍ له هر ډول خوندو څخه به

خوند اخلو دی هلك چې له کوچنیوالي څخه یې د کنجکاوۍ څېړنې او حکیمانه افکارو پوخ حس درلودې تاسې به یې نه پېژنئ ښه یې وپېژنئ دا د انګلستان هغه صالح بچي او رښتین خدمتګار (لارنس) دی چې د وطن د ګمارل شوي خدمت په لار کې یې څو واره د دار رسۍ و غاړې ته لوېدلي او د افریقې په وچو بیابانونو کې په شواروزو شوم ګرزېدلي دي مګر سره له هومره زخمتو یې د استعماري پلانو د بشپړولو په لار کې اراده نه ده سسته شوې او نه څه تشویش ځنې ښکاره شوي دي.

د ده د پشپړ تدبیر او کاملې جاسوسۍ اثرؤ چې د شرق خصوصاً د عربي ممالکو په غاړه کې یې د مرېې توب پنډه کړۍ واچوله او هسې کارونه یې وکړه چې یو منظم جرار فوځ سره د عصري وسلو له لرلو د هغو له کولو څخه عاجزه ؤ.

یو څوك چې له ورکینې څخه په عیاشیو روږدنه وي او تر خبرو عمل ته ترجیح ورکوي و هغه ته ولې هر رنګه سخت کارونه اسانه ونه ایسیږي؟ بدبختي یوازې د لټانو پرکور مسلطه شوې ده د ننګ مېړونه او د عمل خاوندان له دې رنځه څخه پاخه دي.

دې زمونږ انګلیسانو د افتخار تومنې (سرتامسن لارنس ایډورډ) د جاسوسۍ تر تعلیم دمخه له قدیمو آثارو او تاریخي روایاتو سره زیاته مینه درلوده د متعلمۍ په زمانه کې به د وزګارېدلو په وخت کې پر بایسکېل باندې سپور سره له کمرې پر زړو کلاؤ او کلیساو باندې ګرزېدۍ عکسونه به یې اخیستله تاریخي روایتونه په یې دهر چا له خولې څخه غونډوله په بغل

ځولۍ کې به یې همېشه غیر د زړو کلاو او ورانو ښارو له عکسو څخه بل شی نه میندل کېدې د ده معلومات د تاریخ په خصوص کې هومره موثق ګرزېدلی وه چې دا کاډیمیو استادانو په استسنا د په کاوه او د درس په ضمن کې یې د مثال په توګه سره را وړله هر وخت چې به یې د کومې واقعې څرك پیدا کړنه یې پرښودله څو د هغې په متعلق یې خپل معلومات نه وای بشپړ کړي د څرك ایستو او څېړلو ماده یې په دې اندازه سره قوي وه چې غیر له تاریخه څخه یې د نورو شیانو د شروع ختم او پېښېدلو د علت په شاو خوا کې هم معلومات لاس ته راوست یوه ورځ دا د علم مین پخپل اطاق کې په علمي تحقیقاتو بوخت وئ چې ناڅاپه یې یو شمېر تولګي وال د مکتب د ادارې له ظرفه څخه ګمارل شوي راغله او دی یې زجراً د لوبو د ډګر تګ ته مجبوره کړ که څه هم ده خوار ډېر عذرونه ورته وکړل او راز رزاز پلمې یې ورته وتراشلې مګر کومه نتیجه یې ونه ښندله پس له دې څخه به په هره ورځ په حورامات زړه سره صرف د مکتب د ادارې د امر د تعمیل او احترام په ملحوظ د لوبو ډاګ ته تې او هلته به یې په کوم چم سره ځان دورې هیته ګوښه کاوه د خدای کړه وه یوه ورځ د لوبو په ترخ کې یوه شوخ هلك نابېره داسې سخت پورې واهه چه راسته پښه یې په ورانه کې غوټه ما ته شوه دې ناوړې پېښې یې وجود هومره ضررمن کړ چې بیا یې بدن پر مخ وده ونه کړه.

مقصد دا دی چې پس له روغتیا څخه رسماً له سپورټ معاف شوي دي معافېدو سره له معیوبۍ پرده باندې د اختر ورځ جوړ کړه هره ورځ به پس له لوستـه څخه په خلاصه ښنه سره د قدیمي آثارو د تحقیق او میندلو په غرض سره نابلدو ځایوته تې څو یوه ورځ یې د دغو تحقیقاتو په ترځ کې د آکسفورډ د ښار یوه ډېره زړه نقشه ومیندله چې په هغه کې د پوښلي ویالې ځرك وُ چې و(پالي) پله ته ټیژدي د برېښنا د کارخانې تر شابهېدله او ده ګاهي نه وه لېدلې دې ویالې ده ته یو نوی مضمون پیدا کړ په دا سبا ډېر وختي د یو شمېر نورو پوهنځو له زده کړیانو سره د نوموړې کار خانې شا ته ورغئ هغه یې د سیند پر غاړه باندې پرېښودله او د ازړه و رمېړه په یوازې سرسره په یوه وړه بېړۍ کې سپور شو د سپرېدو په ترځ کې به هغو کټ کټ پرخندله او یو له بله به یې سره ویله دا سودایي بیا وګورئ چې وځه ناشودو ته یې فکر شوی دی مګر دی د عزم او ثبات قهرمان د دوی و هغو نیښ د ارو ویناؤ ته څه اهمیت ورنکړ او نه یې پخې ارادې کوم تزلزل پیدا کړ په خورا اطمینان او ډاډینه سره د خپل مقصدو لور ته رهي شو په لومړي سر کې دا خیال وُ چې له دغه مخامخ لارې څخه به د (پالی پله) وسرته ورسیږم مګر د اوپو باداسکو او څپو یې بېړۍ سیده په پوښلي سوپ ننه ایستله او له نظره غایب شو چې دې غایبېدو یې په ننداره کوونکو کې یو عالم اضطراب او پرېشاني پیدا کړه مګر ده خپلو معنویاتو ته هېڅ تغیر ورنکړو هم هغسې یې د پخوا په څېر سره د کښتی

پرونـه ښورول پـه دې تيـاره تونـل کـې چـې د لاس ګوتـې نـه معلومېدلې او لـه پورتـه خوا څخـه غـير د ترامـو لـه دربـې او د موټرانو لـه بغـهاري بـل شـې نـه اورېدل کېدې زمونږ دا وړوکـې پـهلوان تقريباً دوه ساعتـه د اوبـو لـه باډاسکو او څپـو سـره پـه کشماکش بوخت وُ خو پـه پای کې يې لـه لرې څخه يوه خفيفـه رڼا تـر سترګو شوه څو دقيقـې لا نـه وې تـېرې شوې چـې سمدستـې بېړۍ د "پالي پله" د ابلې خواتـه لـه سوپـه څخـه راووتلـه او نيژدې وساحل تـه پـه ډېره کراری سره تکيـه شوه پـه دې وخت کې يـې يـوه نجلۍ وليدلـه چې دورې هيستـه يې لامبو کولـه او تـر ځينو پورتـه يې ټولګي وال پـه ډېره وارخطايي سره هم هغسې ولاړ تـر سترګو شوه چې د بېړۍ د غائبېدو لـه زمانې څخـه يې بيـا تـر دې وختـه پورې د ده انتظار يوست او پـه ډېره بې تابۍ سره بـه يې پـه سوو کړو کې يو د بلـه سره ويلـه چې زمونږ ګران ملګري "لارنس" پـه پوښلې ويـا لـه ننوتې ځينو يـې بيـا د دغـې حادثې پـېښېدل د سرټمبګۍ او ناپوهـې موجبـه بللـه څو هغـه و چـه د دې انتظار او يو عالم حيرت پـه ترخ کې يـې ناڅاپـه سترګې پرده ولګېدلې او هر ويـه يې لـه خپلو کړو وينا وُ څخـه خجالت وخوړ فوراً يـې ورالا کړه او پـه ډېر اخلاص و محبت سره يې لـه بېړۍ څخه راکښتـه کړ ټولو ملګرو او بيګانګانو د خپل عطوفت پـه غيـږ کـې ټينـګ ونيـوی او استقبال يـې څرنګه چې ورسره ښائيدئ پر ځای شـو وروستـه تر دې نو هر يو د ټوکو او خوش طبعي پـه صورت سره پوښتنې ځنې شروع کړې يولـه دوی څخـه ورتـه ويلـه:

"ګومان کومه چې په دې خطرناکه حادثه او تهلکه کې دې د ځان زړورتوب آزمويه"

لارنس د ده دې چې موردې او نامعقولې پوښتنې ډېر وخندا وه په ځواب کې يې د ورته وويله ښاغليه! زمادې جزئي کارولې ته په دومره زيات حيرت کې واچولې؟ آيا ستاهمت دونه لږدی چې داسې ناچيزه کارته لاهم د تعجب او حيراني په سترګه سره ګورې زما د زړه په سنجول سوو نقشو کې خو داسې وړې وړې واقعې کوم قدر نه لري هغه وخت به زما د افتخار او وياړنې ورځ وي چې د وطن د چوپړ په لار کې مې ياويني تويې شي او يا د برياليتوب بختور نښان مې پر ټټر وټومبل شي". وروسته تر دې که څه هم په ښوونځي کې د ده کلونه، کلونه تېر شوه مګر د هم صنفانو له شوخيو او ځورولو څخه ونه ژغورل شو و مطالعې ته به يې نه پرېښودی او کله چې به د کوم مقصد پر لور رهي کېده ټوکې به يې پر کولې او د (کتاب د چينجي) تحقير آمېزه نارې به يې پسې وهلې خو سړه له دومره سختيو او اهانتو يې د خپل هدف مزل په ډېره سړه سينه سره تېره وله. کوم وخت چې به دوې يا درې ورځې پرله پسې رختي پېښه شوه او يا به د عمومي تعطيل موقع راغله نو به يې د برطانيې يا فرانسې وليرو، ليرو علاقو ته د علمي سير په غرض سفر کاوه هلته به يې د مهمو شيانو او د ليدلو وړ ځايو په متعلق نوټونه ترتيبول او له هر چا څخه به يې د خپل معلومات د پراخوالي په ملحوظ پوښتنې کولې.

د انګلستان د ارشتين زوی (چې زه يې د ورکتوب په مصغر نوم سره يادوم ) او زما مات قلم د ده د بشپړې سوانح ليکلو عزم کړی دی زمونږ له هغو لوړو شخصيتو څخه دی چې محبوبيت يې نه يوازې د نارينه ؤ او بلکه د ښځو او وړوکو په زړو کې لا هم شته هغه د مکتب هلکانو چې دی يې مضحکه ګرزولی ؤ اوس يې تر قدمو لاندې سترګې ږدي او د کتاب د چينجي د نامه په عوض کې يې د صالح بچي او سياسي لوی قهرمان په نامه سره يادوي ولې به يې نه يادوي خو د وطن د عشق په لار کې يې عملي امتحانونه ورکړه او هغه زحمتونه يې وګالل چې د سست عنصرو انسانانو په وس نه دي پوره دا زمونږ د سترګو تور لارنس د تعليم د زمانې په آخر کې د (جنير) کالج د ټولو زده کړيانو د توجه مرکز ګرزېدلی او د اکثرو به د مطالعې د سرګرمی او اخلاقي وضعيت له خاطره غبطه په کېدله د بائيسکيل په سپرلو کې خو د ډېرو ګرزېدو په نسبت سره په پای کې دومره ماهر شو چې د کالج د سپورتي ټولنې له طرفه څخه د (ستر ممبر) لقب ورکړ شو. ده د خلکو له نظره نابغه او د صبر و حوصلې غره په پای کې د عوامو او خواصو توجه ځانته داسې جلب کړه چې په کورو، دکانو، کافيو او حتی کالجو کی به يې پرژوندانه باندې تبصرې کېدلې او هر چا به ويل (قوي اميد شته چې دا وچ دنګر هلك دې يوه ورځ نه يوه ورځ د نړۍ له لوړو شخصيتو او وتلو وګړو څخه شي)

دي هغه سړی و چې د خپلو وسیعو معلوماتو په زور یې لومړنی مقاله د شام او فلسطین د هغو زړو کلاو په باره کې ولیکله چې د مسیحي مجاهدینو له طرفه ورانې شوې وې که څه هم د ده دا مقاله د انګلستان د ټولو علیمي ټولنو خوښه او بېل بېل تقریظونه پر ولیکل سوه مګر دی پر دې عقیده باندې و چې تر هغو پورې مې معلومات په دې باره کې د ډاډینې وړ نه دي تر څو چې پخپلو سترګو یې له نیژدې څخه ونه وینمه یعنې په دې کې د ده لوپه غایه او مقصد دا و چې د نوموړو مځکو د اوسېدونکو روحیات او د معشیت طرز هم ځانته بشپړ معلوم کړي چې بیا به په بله پلا کې خپل مجوز پلانونه هلته بنه عملي کړای شي نو د همدغه منظر په اساس په (۱۹۰۹) عیسوي سنه کې د شل کلنی توب په عمر د شام د شمالي علاقو په سفر روان شو او د عیسوي مجاهدینو د تګ لارې تعقیب کړه.

د دې کتاب بناغلی ویونکی به ګومان کوي چې زمونږ دې محترم سیاح به څومره ډېرې پیسې له ځانه سره د همدې مقصد د وړاندې بیولو په غرض اخیستې وې حال دا چې داسې نده غیر له هغو سلو پونډو چې له آکسفورډ څخه بیا تر بېروت پورې پر کرایه ځینې ولاړه بل شی یې په جیب کې وجود نه درلود پس نه بېروت څخه یې د پیسو د نه لرلو له جهته د شام او فلسطین ټوله مځکه پیاده طی کړې د خوراك پیدا کولو وسیله یې ورځنې مزدوري او یا د پربندو عربو میلمه پالنه وه مګر کله چې

بیا خپلې پاکې خاورې (انګلستان) ته راستونېدې خورا ډېر مبلغ ورڅخه موجود و، دې لنډ سفر یې تقریباً درې میاشتې وخت ونیو له فلسطین څخه نیولی بیا تر قدیمي او ډېنسیې پورې چې اوس د حیفا په نامه سره یادیږي وګرزېده او تر یوې اندازې پورې یې د خپلو معلوماتو او تحقیقاتو لمن ارته کړه.

د دې بریالي سفر تر بشپړېدو وروسته یې خپل متفرق نوټونه مرتب او له همدې لارې یې د مسیحي جګړونو وشهرت ته یو په زړه پورې تفصیل ورکړ دا مسیحي میړونه چې په دې ځای کې یې ذکر راغی زمونږ هغه زړور وروڼه وو چې د مذهب او هېواد د پت خوندي ګولو په غرض یې خپل کورونه پریښي هلته لیرې په ایشا کې یې له مسلمانانو سره سخت جنګونه وکړل دا جنګونه نه یوازې له دغه وخته څخه بلکې درې سوه کاله د مخه لا جاري وه چې بیانونه یې په تاریخ کې واضح لیکل شوي دي او زما نور تفصیل ته حاجت نه لري هغه شی چې زمونږ زړونه یې ډېر رازخمي کړي او انتقام اخیتو ته یې اړیتسلی یو د اسلامي لښکرو بې رحمانه یرغلونه او بد سلوکۍ دې مونږ د ښځو د بې ناموسولو او یاد دوی د نورو بربریانه او ځناورانه وضعیتو له کولو څخه نه یو متاثر شوي بلکې هغه شی چې زمونږ زړونه یې رازخمي کړي او سترګې یې راوښلنې کړي دي د مقدسو کلیساو نړول او د هغو پر ځای باندې مسجدونه ودانول دي.

د غو هېوادو چه دلته يې لنډ تذکر و شو يو وخت د مسيحي مجاهدينو صليبي فخرو شرف ځانته حاصل کړي وُ مګر د لارنس د سفر په زمانه کې د ترکانو هلالي جنډې پر رپېدله.
اوس غواړم چې بېرته په اصلي مطلب پېل وکړم او د دې پرديس ګرزندوي د دې سفر پر خواريو او زحمتو باندې چې د انګلستان د اجتماعي چوپړ په لار کې يې متحمل شو څه نا څه رڼا واچوم.
ده په دې پلا کې خورا ډېر تکليفونه وګالل او له زښتو ډېرو عجائيبو سره مخامخ شو چې پوره بيان يې زه په دې وړوکي کتاب کې نشم کولای خو سره له هغه به يې په لنډ صورت سره څه تذکر ستاسې حضورته عرض کړم. د مخه وليکل شوه چې لارنس د (خليبي) د آثارو د څرک ايستلو او نورو تاريخي معلوماتو په غرض سره سمې لارې پرې ايښې د وچوريګو او سوځوونکو بيابانو پر لور روان وُ تر څو چې وروسته تر ډېرو لوړو تندو او پښنو تناکيو د سينون (Sahyouyahyoun) و کلاته ورسيدې دلته يې نور خپل ټوله نوټونه له مشاهدوي معلوماتو سره مقايسه کړل او څه نور اضافه توب چې په کې ممکن او درج يې کړ د "سينون" د کلاتر کتلو وروسته د (سينټ پال) د زمانې له کنډوالو سره مخامخ شو دا کنډوالې زمونږ د زړورو مجاهدينو د جلادت او زړورتوب يا د کارونه دي که څه هم اوس له دوی څخه غير له څو زړو کنډو کپرو ديوالو څخه نور څه نه دي پاتې اما د مجدو عظمت خاطرې يې زمونږ په زړو او يا د تاريخ په پاڼو کې محفوظې دي دا منمه چې

غليمانو بـه مـو پـه هر ځاى کې ودان ښارونـه لـه مځکې سر سم کړي وي او لـه وجوده څخـه پـه يې د خپلو منجوسو ذهنيتـو پـه مقتضا سـره پر مـخ سترګې پوټوي امـا د زړونو ليکنـه او د حق بينو مرتبت يـا داشتو نـه خو نشي محوه کولاى يـو وار خو دې هغه زمانه وره ياد کړي چې زمونږ عيسويانو زړورو ښځو او لـه کاره لوېدلو زړو د ټينګ عزم او مېړانې پـه قـوت سره و دوى تـه داسې ماته ورکړه چې د ټولې دنيا پـه تاريخ کې ساري نـه لري آيـا د (رچارډ) د تورې هيبت او د مسيحي توريااليو لښکرو د يرغلو وېره د دوى لـه زړو څخه وتلې ده چې اوس يې د تاريخي عمراني آثارو نړولو تـه ملا تړلې او خپل د انتقام اور پـه دې سره وژني.

نو اې زمونږ استاځي لارنسه! و دوى تـه ووايـه چې د"انګليسانو د ځلميانو پـه رګو کې لاتر اوسه د صليبي مجاهدينو تودې وينې پـه جريان کې دي بيا بـه پـه دې نيژدې ورځو کې خپـل د تورې شرپ او د مېړانې جذبه در وښيي.

مطلب دا دى چې لارنس د نوموړي مخروبه ښار د تېر عظمت پـه ياد خورا ډېرې د افسوس او تاثر اوښکې تويې کړي او پـه خورا کوټلي زړه سره پـه داسې حال کې چې څه سوځونکي حماسي شعرونه يې وويله ځنې روان شو. وروستـه تر څه ځکل تګ يې نورې زړې کندوالې و مخې تـه راغلې چې پـه بېرحمانـه ډول سره نړولې شوي او د ليدلو د توقف قابلې نـه وې پـه دې ځاى کې لـه يوه بدوى عربـه سره چې خو وختـه د مخـه يې ورسره ليدلي وه مصادف شو تاسې تـه بـه معلومـه وي چې د عربو بدوان د چا د

نمك خوردني او مېلمه پالنې ډېر پاس ساتي نو په همدې اساس سره يې كوم تعرض پرونه كړ او ځركنده ځنې تېر شو.
اوس نو تاسې قضاوت وكړي چې په دغسې وچو بيابانو او سوځونكو ريګونو كې چې مرغه پر نشي وهلاى ګرزېدل په لوى لاس د مرګ وخولې ته ځان وركول نه دي! مګر د برطانيې دې باعزمه زوى او زړرو سرباز دا ټولې سختۍ او مشكلات د مقصد ميندلو په لار كې پر ځان يووړه ځو وروسته تر زياتو ستونزو او كړاو بېرته د (عرفي وښارته ستون شو هلته يې لږ توقف وكړ بيا يې د فرات د سند ساحلي لار د عيسويانو د نورو آثارو او زړو كليساو د ميندلو په ملحوظ سره واخيستله ولې چې له هغو سره د مسلمانانو په بې احتراميو او بربرانه سلوك د مخه غوږېدلي او زړه يې غمناك شوي وُ.
اې زړورو عيسويانو!
هغه زمونږ وستاسې د زمرياليو پلرو په ناز جوړ شي عمارتونه اوس په داسې تاثر آوره حال سره نړېدلي دي چې د هر عيسوى يې په ليدو سره بايد اوښكې ونه دريږي نن ورځ يې اوسېدونكي يا غله او يـ په موقتي ډول سره عربي پونده دي هغه د پخوا شور ماشور او هي. هى: يې په سره سناسره تبديل شوى دى غير د باد له پوښكې د مرغانو له چونكي او يا د ځناوور سو نه غږومبى ځحد بل شي نه په كې اورېدل كيږي.
پرديس لارنس او د انګلستان د احساس بچي د يو عالم تاثر په حال كې په هغو كې ټلولى. ټلولي. دورې هيسته وګرزيدي او د.

تېر مجد و عظمت صحنې يې په غير مرئي صورت سره دې پلو او هغه پلو ته تر سترګو تېرې شوې بل د خپلو نيکه ګانو هغه زمانه ورپه ياد شوه چې په دغه ځای او فلسطين کې په ډېره مېړانه سره وجنګېدل د دوی کورنۍ د (والتر) په نامه سره يادېدله چې د انګلستان په تاريخ کې ښه نوم لري د هغو د پاك روح او تودو وينو برکت دی چې بيايې په کورنۍ کې داسې مېړه پيدا شو چې ټوله هېواد په وياړي او غليمان يې د ملي احساساتو او د ملت خواهي او وطندوستي و جذبې ته هك پك تللي دي.

کله چې دی په خير و عافيت سره وروسته تر يو لړ مشاهدو او علمي تطبيقاتو بريالي و هېواد ته راستون شو نو يې خپل ټول معلومات د مضمون په ډول سره مرتب او مردف کړ چې په علمي مجامعو کې د هغه ښه استقبال وشو او ديوويشت کلن زده کړې شاهکار بلل کېدای شوای حقيقتاً دغه متتبع زلمي د غلورو کالو سفر په موده کې چې له هرې ګنتي سره يې مړګ ترلی سر ېېره پر نورو صفتو باندې داسې حفريات او تحقيقات په تاريخي موضوعاتو کې وکړه چې د دې فن ماهرانو او متخصصينو په ډير کلو نشوای کولای بل يې په عين حال کې د برتش موزيم دې ته مجبور کړه چې خپل د حفريات معلوماتو لمن د هغې خواته يسې اوږده کړي همدغه سبب و چې نوموړی انجمن ګمارل شوو غړو ده په لاربښودنه سره کولای شوای چې د هغه زاړه آثار او عمارتونه چې د ريګو تر

کوټو لاندې شوی وو کشف او بشپړ حفریات په کې وکړي کـه څه هم د دغـو آثارو او خرابـو څرك څلوېښت کالـه د مخـه يـوه لارور کې مسـافر ايستلی ؤ مـګر افتخـار يـې و ده تـه راجـع شـو پـه (١٩١٠) عيسـوي کې چې يـوه ډلـه زلميـان د حفريـاتو او علمـي سير په غرض سره و فلسطين ته تللی وه. کوم يو لـه هغـو څخـه د لارنس د رنړو او زحمتو تذکر و کوم دوسـت تـه د ليك په ذريعـې سره داسې کوي:

(مونږ په دغه وچ ريګ کې د نابلدۍ پـه حال کې لـه يـوه لارنس نومـي زلمي سـره مخـامخ شـوو چې و تينـګې ارادې او علمـي سرګرميو ته مو يې ګوته په غاښ ونيوله د دې مځکـې ګرميو او زحمتو پر ده باندې هيڅ تاثير نشوای کولای.)

يـو بـل ځوان چې لـه لارنسـه سـره يـه دې سفر کې ملـګري او د علمـي تحقيقـاتو يـا حفريـاتو مرسـتيال يـې بلـل کـېدی و خپـل ورورته چې ليك کې د دې سفر کوايف داسې بيانوي:

(د سفر زحمتونه مې د يوه لارنس نومـي ځوان پـه انډيوالـۍ سره پر مخ سپك شوي او يو عالم خوښې راتـه موجوده ده د دې ځوان د ذهـانت او فـهم تعريـف زه پخپـل مـات قلـم سـره نشـم درتـه ليکلای په خبرو کې يې يو عجيب سحر موجود دی چې هر ډول مخالف او نقيض تر تاثير لاندې ژر راوستلای شي.

لنډه دا چې پشاش تندې يې د يوه موفق سياسي او زړورتـوب و تحمل يې د يوه مبارز سرباز نمايندګي کولای شي.)

د حفریاتو د زماني د اوږدوېدو له امله يې د نيژدو کلو له ترکانو او عربانو سره اشنايي پيدا شوه چې هغوی به پرده باندې دفصيحې عربی د ويلو له جهته څخه د دغې مځکې د اوسېدونکي عرب ګومان کاوه او د تګ و راتګ سلسله يې سهاروبېګا د وزګارېدو په حين کې ورسره جاري وه د تعجب خبره خو لا دا ده چې د دې هومره ناستې ولاړی په زمانه کې يې پر دې مدبر سياسي شخصيت باندې د يوه انګليس ګومان ونه کړای شو د هر يوه محبت تر دې اندازې پورې ورسره پيدا شوی وُ چې ببله ده څخه به و عمومي مجلسو او ټولنو ته نه تلل وايې يوه ورځ د همدغه محبت له وجه څخه داسې ورته وويل شوه:

(زمونږ ګرانه اشنايه ستا د دې وړوکي پرېږ و تحمل او استقامت ته خدای رټوله هك پك تللي يو رښتيا هم دا د عربو د هغو تودو وينو تاثير دی چې ستا په رګو کې جريان لري))

د دوی دې وينا لارنس په بريتؤ کې وخنداوه او په خورا جذابه لهجه سره يې ورته وويل:

(تاسې ولې زما ودې زحمتوته تعجب وړي ياست او د تحمل قوه مې ما فوق الطبيعته ګڼې آيا تاسې نه پوهيږي چې په ژوند کې پر انسان باندې هرډول سرې او تودې راځي او دا تطور يو معمولي کار دی چې هيڅ د ويلو بايد نه لري هغه چا ته بايد د مېړانې او زړورتوب نسبت وشي چې له مرګه نه ويرېږي او د مقصد ميندلو په لار کې له هيڅ شي څخه ډډه ونه کړي)

تاسې ما په دې معمولي کار سره مه ستایاست هغه وخت به زه د ستاینې وړ وبلل شم چې د یوه حقیقي وطندوسته په څېر سره وخپلې پاکې خاورې ته خدمت وکړم).
وایي د ده دې راشې درشې او اخلاقي سلوك له پونده و عربو او یا نورو ملکي وګړو سره په څوکسو مقصد په جرمني انجینرانو کې چې د دې منطقې د ریلوایي په سمولو سره مامور و د حسد اوربل کړ او برملائي د مخالفت لار واخیستله مګر د باعزمه لارنس پر روحیاتو باندې دې ناوړه وضعیت کومه اغېزه ونه کړه او نه یې په هدف کې کومه سکته ګي وړپېښه کړه په ډېر متانت او سړه سینه سره د مقصد پرلور روان وُ. سربېره پر دې به یې کله کله هغوی ته د دې بدلو په معاوضعه کې د حفریاتو را ایستلې ډېرې هم ورکولې او د بېکارې په وخت کې به یې د کار کومك هم ورسره کاوه په دې هومره موده کې یې نه چا د خواشینۍ اظهار واورېدي او نه یې کوم وخت په مسخرو کې د هغو یادونه ورته وکړه.
تاسې ته به معلومه وي چې پوهان او سیاسي وګړي چې په ژوند کې لومړني حق ورته ثابت دی تل د خلکو و بدسلوکیو نه تېرونه سپر وي او د بدیو په مقابل کې ښه سلوك ورسره کوي نو په همدې اساس سره زمونږ دې باتدبیره سیاسي شخصیت چه د انګلستان په تاریخ کې یې نوم په زرین خط سره لیکلی دی.
خپلې روحیې او رویې ته د هغو په مقابل کې څه تغیر ورنکړ یوه ورځ یې نوکر په داسې حال کې چې دی او ملګري یې د توتو په

مرتبولو بوخت وو و اطاق ته وارخطا ور ننه ووت او د پولسیانو له راتګ څخه یې چې د دوی په نیولو او مراقبت سره مامور شوي و خبر کړه یوه ګړۍ وروسته یوه ټولګي وسله والو سپاهیانو د یوه ضابط تر مشرۍ لاندې په خورا بېړه سره یرغل پر راوړ او په ډېر عصبانیت سره یې تهدیداً و دوی ته داسې وویل:

(خبردار چې شور ونه خورئ کنه ګولۍ به مو تر ټټرو پورې ورې ووزي تاسې په کوم امر سره زمونږ د دولت قیمتي ډېرې پر جرمنیانو باندې وپلورلې او بل مو د حفریاتو په ترڅ کې وسیاسي فعالیتو ته ملاتړلې ده په ښې غوږیې ونغوږي چې د ترکیې ویښ دولت دوست و دښمن ښه پېژني او د هر خارجي ناوړه حرکتونه تر پوره مراقبت لاندې نیولای شي)

د دوی دې بې منطقو وېناو پر لارنس باندې کوم تاثیرونه کړ او نه یې د ده په بشاش تندي کې د غمناکې ګونځې پیدا کړې په ډېره بې پروايي او متانت سره یې ورته وویل:

(د کوم سند له مخې تاسې د قیمتي تیږو خرڅلاو پرما باندې تاوانوي او یا مې د سیاسي فعالیت په جرم سره متهم بولي که ستاسې له قیمتي تیږو څخه مراد هغه بېکاره تیږې وي چې غیر د عمارتو له تعمیره څخه بل ارزش نه لري او مایي وړیا و دوی ته دوړنګ اجازه کړې ده بیله خبره بلله کیږي او زه یې د تردید د لیل نه لرمه) مطلب دا دی چې د ده د غو معقولو او مدللو د

لایلو د هغو بې تزبیو او سر تمبوو مراقبونو پر زړو باندې کوم تاثیرونه کړ او بالمقابل یې په ډېره بې شرمۍ سره ورته وویل:
(چې شه شیطانه دا خبرې ستا د جرم نوعیت نشي اړولای او نه داسې په پښو ترلي خره یو چې په دې پستو خبرو سره به مو خطاباسې دا د سلطان حکومت دی دلته زمریالي ترکان او ننګیالي عرب اوسېږي چې پلرو یې د یوه (الله اکبر) په غږ سره ستاسې د پلرو او نیکه ګانو زړونه له ګوګله ایستلي وو زمونږ د ښکلو زلمیانو د دیندارو زړو په رګو کې لا د تېر مجدو عظمت هغه تودې ويني جریان لري او د موتو قوت یې نه دی زایل شوي د ایوبي صلاح الدین د لښکرو زوږ او د ډزوطنین د دې ځای له جګو غرو او پراخو بیابانو څخه لاغوږو ته رسېږي او هر ساعت د وښتوب الهام را ته کوي نو په ټینګه سره و پوهېږي چې په دغو خړیو پوړیو سره مو نشي تیرایستلای او نه مونږ لره د دلایلو اروېدلو صلاحیت او موقع شته هلته د رښتیا میدان لره چې ورغلاست بیا هرڅه چې وایاست او هر دلیل چې پېشوي پیش یې کړئ.)
پسله دغو لاپو او خود نمایو څخه یې د انګلستان هغه صالح زوی (لارنس) سره له ملګري مخ دا مینه قوماندانی پر خوا روان کړ پرچارپېر باندې یې د پولیسو ګمارل شوي ټولګي په ډېر منظم صورت سره برچه پك روان وه د سیلانیانو له طرفه څخه به کله په تېرو ویشتل کېدل او کله به یې ښکنځل او بدو رد ورته ویل خو سره له هغو نه اهانتو او انضباطي تکالیفو د دوی په

معنویاتو کې چاتزلزل محسوس نه کړ په ډېر متانت او وقار سره لکه څنګه چې د دې خاورې له زامنو سره ښائیدله روان وو د نوموړي قوماندانی په غولي کې د زیاتو خلکو غونډېدلو او یا د نورو پولیسي تر تیبو په نیولو سره دوی ته دا محسوسه کړه چې مسئله ډېره درنه ده او د چاره جویې لپاره یې پلان جوړول په کار دي او بل د دې ادارې د عمارت د دوهم پوړ په منځنـي اطاق کې یو سوربخون شین سترګی ځوان د دغې مقدمې د کار روایې لپاره هم منتظره ناست ښکاریدي چې د نوموړي موضوع مرتبې پاڼې به یې سره اړولی راړولي. د دوی په رسېدو سره له هرې خوا څخه زوږ پورته شو او هر ننداره کوونکی به یې د لیدلو لپاره ډکې وهلي پولیسو انضباط او مراقبت ته زیاته توجه وکړه او نور موظف کسان پر خپلو ځایو باندې تیارسئ ودرېدله پسله ۱۰ دقیقو څخه د چوپېدوزنګ ووهل شو او مجسترېټ د خپلې شخصي دوسیې پر کتلو پاڼو سربېره نورې پاڼې هم راوتلې چې په مخفف صورت سره په سره قلم اشارې ورته شوي وي وروسته د آرامی او سکون تر اطمینان یې فوراً په لوړ آواز سره د عمومي محضر په مخ کې د هغو په ویلو سره پیل وکړ او په پای کې یې د ثبوت چټې نتیجه هم پر اضافه کړه چې په هغه کې یې لارنس او ملګري مجرمان بللي او له صلاحیت لرونکي مقامه څخه یې د دوی لپاره د درنې سزا غوښتنه کړې وه دا یو عجیبه قانون دی چې د مجرم د قناعت ملحوظ کړت په کې نشته صرف د پولیسانو او یا مغرضو

جاسوسانو درواغو ته اهمیت ورکول کیږي او د دوی هره نظریه په هر مورد کې د ډاډني وړ او د عدالت قبوله ده.
سربېره پر دې قطعي نتیجې او بې ځایه تقاضا باندې (لارنس) د منطقي دلایلو په زور سره د تجدید نظر لپاره مقدمه لس ورځې ټال کړه او بل یې مجسټریټ قانوناً مجبور کړ چې د معاملې تر فیصله کېدو پورې دې دوی د لویې جېلخانې په عوض کې د توقیف په کومه کوټه کې تر خراست لاندې ونیسي نو په همدې اساس سره یې په دې وخت کې کالي تلاشي شوه او هغه مرتب یا داشتونه چې د تندې په خولو او د مزلو. مزلو په سټرپاو سره یې لاس ته راوستلې ځنې واخیستل شوه که څه هم د وعده خلافو مامورینو له طرفه څخه یې د بېرته ورکړې ډاډ ورکول شو اما کومه فایده یې ونه کړه. تر دې کار وائیو وروسته یې نو دوی د توقیف و لور ته بوتلل او مامورین ډوډۍ خوړلوته ولاړ شوه په توقیف کې (لارنس) یوه ورځ د خبرو په ترخ کې و خپل ملګري ته وویل: په دنیا کې د سعادت تر مرګ بل مسعود شي نشته ګومان کومه چې ته به هم د دغې نظریې طرفدار یې؟ زما و ستا هدف خو صرف و انګلستان ته خدمت کول او د دغې پاکې خاورې عتلا ده نو د دې اعتلا د تامین په لار کې بند، وهلو. حتی و مرګ ته هم باید ځان ورکړو د خپلو ګرانو اولادو مالو او حتی سروباك ونه لرو. زه چې د خپلو نورو ورونو د خدمتو خاطرې او د مینې د محبت جذبې را په زړه کړم خدای ړو له ډېره خجالته څخه کښته ګورم مګر سربېره پردې باندې ما

و تاته د ځانو په خلاصولو کې سعیه کول لازم دي ولې چې له یوې خوا څخه لوی، لوی کارونه را ته ګوري او د ګمارل شوي خدمت د پلانو یوه برخه لاوسرته نه ده رسېدلې او له بلې خوا څخه د ترکانو مرداري بندیخانې چې د خزندو او موذي حشرو له لاسه څخه څوك تېك نشي په کې کولای هغه جهنم دی چې ذکر یې د انجیل په مقدس کتاب کې لاته دی راغلی)

مطلب دا دی چې دنیولو په پنځمه ورځ یې غټ او کوچني مامورین د حکومت په عمومي سالون کې د محاکمه کولو په غرض سره غونډ شول مجسټریټ د تحقیق او یا د اشتوپانی د دوې و مخې ته کښېښوولې د ترکانو او عربو کینه کښنو سیلانیانو په ډېره بې تابی سره د هغوی د جزا د تعین انتظار کې (لارنس) او ملګری یې چې د جزا د اورېدو او یلنورو پوښتنو په غرض سره هلته راوستل شوي وو په یوه ګوښه کې د دوو ضابطانو تر مراقبت لاندې غلي ناست وو چې په ډېر حېرت سره یې د عدالت د سترو غړو د طفلانه وضعیت ننداره کوله کله به د حملې کولو د موقع په فکر کې ډوب شوه او کله به یې د هغوی و بې منطقو وېناوو ته غوږ ونیوئ خدای چې په دې وخت کې ناڅاپه د لوړو مامورینو په میانځ کې پر ځینو اطلاعاتو باندې د نظریو مخالفت پیدا شو چې د ټولو حاضرینو فکرونه د هغو وخواته جلب شوه زمونږ دغو دووبې ګناهو شخصیتو دا موقع غنیمت وبلله او په یوه اتفاق سره یې د هغو توپنچو په ذریعه سره چې د دوی د خائینو ساتونکو له طرفه

څخه د پیسو په مقابل کې د مخه ورتهیه شوي وي یرغل پر وروړ چې ټول یې وارخطا او سراسیمه کړه د تحقیق هغه مرتبې پانې یې سره څېرې ویرې او خپل شخصي یاداشتونه هریوه وګوتو ته را وستله بیا یې نو په بېغمه زړه سره د پوټېدو تر ځایه پورې ځانونه ورسول.

ای خوب وړو ترکانو او ناپوهو عربو ښه یې ونغوړې چې د انګلستان د وګړو بریالیتوب یوازنی لاره د کار او عمل سره عشق او علاقه ده زمونږ پوهان تر خبرو کارته ډېر اهمیت ورکوي. او د هر چا د لیاقت اندازه په همدغه موازنه سره معلومېږي (میجر سرهوبرټ یونګي) د شمالي رویشیاګورنر لیکي چې په ۱۹۱۳ عیسوي سنه کې زه د ځینو تاریخي آثارو د لیدلو په غرض سره د شام د دښتو پر لورې روان شوم هلته مې له یوه ټیټ ډنګر ځوان سره ملاقات وشو چې (لارنس) نومېده نوموړي میجر خپل د یادداښت په کتابچه کې دا هم لیکلي چې دې زلمې په تاریخي موضوعاتو کې زښت ډېر معلومات درلودي او ماته یې د دغې منطقي د زړو آثارو په باره کې ځینې موثق یاداشتونه هم راکړه خوږ مجلس او ادبي خبرو یې زه داسې جلب کړی وم چې د ریل د ټکس اخیستلو وخت را څخه تېر شو او څو ورځې تر فرض کړو ورځو اضافه ورسره اندیوال شوم خدای په رښتیا خوښېږي چې په دې وچه بېدیا کې د ده محترمانه مېلمه پالنې او ښه سلوك د نړی تر هر ډول عالي هوټلو و ماته د استرحت وسایل ښه مهیا کړي وو چې تر اوسه

پورې مې له خوا ؤ خاطره څخه نه دي وتلي بل يې په تاريخي زړو لوښو کې چې تقريباً څلو زره کاله پخوا جوړ شوي و دُ خوراکي موادو راته ترتيبول بېل مزيت درلود د کليوالو عربو په زړو کې يې محبوبيت هومره زيات ؤ چې هېڅ بيان يې نه کيږي د لباس، خبرو او نور معيشت د طرز له مخې څخه خو چا د يوه انگريز گمان نشواى کولاى حتماً يې يو غربي نژاده زلمى باله حقيقتاً د يوه سياسي سړي لپاره همدغه رويه ډېره مناسبه ده ولې چې د مقصد ميندلو راز په کې نغښتې دى زما د دې سفر په وروستيو ورځو کې يې ورور له لندن څخه د ليدنګ لپاره هم راغى او پر يوه ښگينې باندې مې بله ښګنې زياته شوه يوه ورځ مې له هغه سره د جرمنيانو د معيشت پر طرز او نورو مسائلو باندې بحث کاوه دى د خپلو ليکنو په مرتبولو او پاکتويسې اخته و مګر سره له دې چې زمونږ پر خبرو باندې يې غوږ نيولې ؤ او کرار. کرار به يې په برېتو کې له ځانه سره خندله زمونږ دبحث په پاى کې چې يې ښه د موضوع عکس واخيستى او تولې خبرې يې د خپل فکر په تله سره وتللې نو قلم يې کرار و دېواله ته تکيه کړ او مخ يې د خپلو نوتو له خوا څخه زمونږ وخوا ته راواړاوه په ډېر قهر سره يې په لوړ آواز وويل:

(آيا د دغو بېعقلانو په ناعاقبت انديشانه چټې حرکتو باندې ستاسې رغېدل د عقل او پوهې له مخې څخه کوم جواز لري؟ ما ته يې پرته له نورو ناوړو حرکتو له ليدلو او يا اورېدلو څخه دلته د بې غيرتى او نه سړيتوب وضعيت ښه معلوم شو کوم

وخت چې يې زما ښه ګذاره د دې ځای له خلګو سره وليدله نو يې په زړو کې د حسد او ړونه بل او په هره ممکنه سعيه سره به يې د ترکانو يا عربو ښه نېت له ما څخه بلې ځوا ته اړاوه کله به يې جاسوسي او کله به يې غل و چم بازور ته معرفي کولم دی ناپوهانو که له انسانيت او سړيتوب څخه څه برخه درلود ای او يا د عقل په موازنه سره يې هر شي تللای نو به يې د هر اخلاقي وضعيت اوښې ګذاري قدر کولای او په تعصبو او نفسي خواهشو پسې به نه تلای اوس نو تاسې لطفاً قضاوت وکړئ چې آيا د دوی د اروېه د بحث وړ ده او سړی لره دا مناسبه ده چې خپل دماغ دې خوشي په هغه سره خراب او طلايي وخت دی پرضايع کړی؟

پرته له دې څخه تر دې اندازې پورې بيرندوکې او بزدل و چه زما د کار د سورنګ پرميل باندې به يې د توپ يا توپك او د پاروتو پړنبکی باند به يې د دستي بم ګمان کاوه همدغه سبب و چې برلن ته يې د حفظ ماتقدم له مخې څخه ځو واره لاندنی تلګرام په دې مورد کې مکرر مخابره کړ:

برلن..................

زمونږ د کار ځای ته نيږدې يو انګريز زلمي د تاريخي اثارو د پلټنې په پلمه راغلی دی چه په ظاهره خفريات کوي مګر په باطن کې سياسي مرامونه لري له حرکتو څخه يې يوه احتمالي خطره محسوسيږي ستاسې مفاهمه د ترکيې له دولته سره په دې مورد کې ډېره ضروري ده (ميجر سرهوبرټ) د خپلو يادداشتو په

بله برخه کې دا هم لیکي: چې د دغه ځوان په لاربښودنه سره زما معلومات د دې ځای د قدیمو اثارو په مورد کې یو په دوه سوه د (هیتی ) د ښار د زړو کتیبو تر جمو یې زما ذهن روڼ او په ډېرو مشکلاتو کې یې مرسته را سره وکړه پرته له دې صفتو څخه یې په ښبان ویشتو کې هم ساری نه درلودی د وزګارېدو په وخت کې به یې د تفریح په ترڅ کې د ځګو غرو په لاښو او یادریګو په کوټو کې د ښبې ویشتلو چمونه را ښوول.

د امریکا د یوې عالي یو نیورستي زده کړیانو چې د عمومي رخصتي په زمانه کې د دې ځای د علمي سیر په ترڅ کې زموږ د دغه زحمت کښه وطن وال استقامت او ثبات ولید د حیرت ګوتې یې په غاښو کې ورته ونیولې او بېلو بېلو عکسو سره یې د امریکا د ګردو مجلومخونه ښکلي کړه یوه له هغو څخه پخپل لیک کې و کوم دوست ته د ده تعریف داسې کړیدي:

((ښاغلی!

ما د مخه تر دې د انګرېزانو پروطن دوستی باندې اعتماد نه کاوه او زړورتوب یې یوه افسانه را ته ایسېدله مګر نن یې ثبوت د یوه لارنس نومي ځوان په واسطه سره راته وشو چې د تفصیل ګنجایش یې په دې وړوکې پاڼه کې نه کېږي کله چې بېرته درستون شم په دې مورد کې به په مفصل ډول سره تشریحات درکړم))

د هر سړي د فضیلت او شخصیت په باره کې باید د نورو قضاوت د ډاډینې وړ وبلل شي ولې چې د خپلو ستایل او یا قضاوت کول د طرفداری جنبه لري دا دی تاسي ته معلومه دی چې د "لارنس) د وطن د محبت او معیشت د طرز په باره کې د نورو نظریې هومره ډېرې دې چې زما د اوړوکې کتاب یې نشي ځایولای خو سربېره پردې یې د اهمیت د زیاتېدو په ملحوظ سره په بعضو ځایو کې تذکر کړم. چې له یوې خوا څخه به مې چاوچا ته ذا لیکنه مبالغه ونه ایسېږي او له بلې خوا څخه ګران وطن وال به هغه سره اشنا شي او د خپلو ښاغلو مېړونو قدر ور مغلوم شي ای د انګلستان برکتناکې خاورې او زمونږ د دې ګران مېړه د خاړپوځو وطنه!

فخر کوه چې ستا په پاکه غېږ کې داسې ستر شخصیتونه روزل کېږي چې په هره موقع کې د غلیمانو د سترګو تېره اغزې او د سرو چنګکونه دې "لارنس" نومي زوی دې د اعتلا په لار کې څو واره د دارله رسی او د توپ له ګولی سره مخامخ شوی دی او د

شام و فلسطین په وچو رېګو او سوځوونکو بیابانو کې به یې ستا له محبته څخه بل قوت نه درلودې بله به یې د هرې تنګسې په وخت کې دا ویله چې د وطن د مور حق بیله د بنارګو له پرېکړې څخه په بل شي سره نه ادا کیږي وایې د هغو امریکایي زده کړیانو چې د مخه یې تذکر راغی له ده سره هومره محبت پیدا شوی و چې د ده په شیرینو خبرو او اخلاقي. علمي صحبت به کرت نه مړېدل مګر سره له دې چې به یې دی کله د کار په خبرنه دریشي او یا د پوونده و عربو په بدنمایه جامه کې ولید نو به یې یو د پله په غوږو کې څه سره ویل او له وضعیته څخه به یې خندا معلومېدله خو ده به و هغو کم تجربو حکیمانو ته چې د زمانې سړیاو تودې نه وې پرراغلې یا مخونه یې د وطن د خدمت په ګرزو نه وه ګرزن شوي هسې جواب ورکاوه.

(( عزیزانو! زه دا کالي چې ستاسې په نظر کې کوم قدرنه لري د تاریخي افتخار په ملحوظ سره اغوندم، او د خپل مرام دوړاندې بېولو لومړنی ذریعه یې ګڼم که څه هم زما دښنو سترګو او طلایي وېښتانو د دې ځای عرب په اشتباه کې اچولې او هریو یې بېلې، بېلې تبصرې کوي مګر زه تاسې ته پوره ډاډ درکومه چې د شیرینو پستو خبرو او یا نورو پروپاګندو له لارې یې غولول کوم د روند کارنه راته ایسي))

حقیقتا د عربو ساده وګړي چې غیر له وچو رېګو او سوځوونکو بیابانو څخه یې نور څه نه دي لیدلي ژرغولیږي او هر حساس قوم یې تر استعمار او استثمار لاندې ژر راوستلای شي همدغه

سبب و چې د لارنس سياسي چالو او مغرضانه پروپاګنډو به ورځ په ورځ په دوی کې نفوذ کاوه او له ترکانو سره به يې مخالفت په زړو کې زياتېدې بل د انګلستان نوم د ده په اثر سره د هر بدوی په زړه کې داسې نقش شوي و چې تا به ويل د نيژدې کلي يا (ګاوې) نوم يې دی په اختراعاتو يې هم تر يوې اندازې پوره خبر او د معيشت پر طرزو باندې يې هم پوره رغېدلای شوای چا و چا ته به زما دا وينا مبالغه وايسي مګر تعجب دې نه کوي څوك چې د پاخه فکر او ټينګې ارادې څښتن وي کولای شي چې د کلو. کلو. تاريك دماغونه دی روڼ او حساس کړي.

د لارنس د زحمتو د استانو نه او د لوړو. تندو خاطرې زمونږ له زړو څخه نه وتلې دي او نه وزي له سارو انانو سره يې په مياشتو. مياشتو مزلو يا د پښو تناکو او چړاخو يې د انګلستان په تاريخ کې هغه د فخر او سرلوړي فصل و باب پرانيستلي دي چې هيڅ نظير نه لري.

کله چې د حلب او د مشق و لورته په وظيفه سره مامور شو نو د هند د سوداګرو له کاروانو سره يې څو شپې او ورځې پلې مزل وکړ دې کاروانو به قيمتي جواهرات او نفيس لباسونه له يوه ځايه وبل ځای ته نقلول په لار کې ده ته د روم د امپراطوريت د دې ځای د تېر مجدو عظمت خاطرې يو وار وربه زړه شي او د هغه وخت په زړو توکې يې د ازدحام او جم و جوش منظرې و سترګو ته جګې ودرېدی بيا يې سمدستي د مسلمانانو د يرغلو او فتوحاتو د استانو نه او خاطرته راغلل چې د موضوع د

تقاضا په مراعات سره نو اوس راشئ چې د هغو پر پخوانـي عروج او اوسني انحطاط باندې هم څه نا څه رڼا واچوو چې په حقيقت سره يې ښه خبر شو دا عرب چې ما په څو ځايو کې د جهالت نسبتونه ورته کړي دي يو وخت يې د عربي کتاب يعنې (قران) په برکت او د حضرت محمد د حکيمانه ارشاداتو په اثر سره هومره ترقي کړې وه چې د امپراطوريت نغارې يې په اروپا کې ډنګېدلې او د انګلستان په څېر سره يې په هر ځای کې مستعمرې درلودې په علم او فن کې چه د ترقی مدار بلل کېږي هم پرمخ تللي په طب. رياضي. فلسفه او نورو علومو کې يې زمونږ و ستاسې نېکه ګانو شاګردان وو همدغه سبب دی چې د بعضو پوهانو اثار يې تراوسه پورې د نړۍ په مشهورو پوهنتونو کې ويل کيږي او يا د لويو ليکونکو د مولفاتو ماخذ دی لکه څنګه چې اوس د دوی ځلميان د عالي تحصيل په غرض سره زمونږ هېواد ته راځي په هغه عصر کې به مونږ خپل زامن د دوی و مدارسو ته په همدغه غرض سره لېږله راشئ چې سربېره د دوی پر ظلمو او نا حقيو باندې چې له مونږ عيسويانو يا نورو قومو سره يې کړي دي پر دا اوسني پريشانه حال باندې يې د حسرت تودې اوښکې تويې کړو او له بې اتفاقيو څخه يې پند واخلو بې علمي دې ځان وخوري او د بې اتفاقی دې کور خراب شي هغه محترم عرب چې قيصر سرور ته تيټ کړی و او وخاقان يې له هيبته څخه رېږديدې نن ورځ د ناپوهی او انانيت له اثره څخه په څه فلاکت اخته دي هغو عادلو ټولوا کانو يې چې د

رعیت له غمه څخه په شپو. شپو خوب نه درلودې یا یې وینې زلمیان چې له مرګه څه کرټ نه بېرېدل نن ورځ څرنګه په دغو جابرو. جاه پرستو پاچاهانو سره تبدیل شوه چې د خپل شخصي مقصد په لار کې په سوووا ورته اچوي او یا یې هغه بې سنجشه زلمیان چې بېله نفسي خواهشو او عیشونو څخه بل کار نه لري لانس پخپل یوه لیك کې د دوی د پخوانی عروج او د غه اوسنی انحطاط پر عواملو باندې په لاندینو کرښو کې څه ښه په زړه پورې تبصره کړې ده.

(( زما ښاغلیه وروره!

ستا د پوښتنې په غبرګون کې په لنډ ډول سره داسې لیکم د عربو اوسنی حال د ډېر افسوس وړ دی بې اتفاقیو. ځان ځانیو. جا پرستیو او پیسه دوستې داسې ذلت ته رسولې دي چې بیان یې زه په دې واړه مکتوب کې نشم درته لیکلای که ژوند وفا وکړه او د سپارل شوي وظیفې له جنجاله څخه لږ څه فارغ شوم نو به په دې مورد کې د وطنوالو د استفادې لپاره یو خانته مستند اثر ولیکم که څه هم د سیاسي تاریخ نورو لیکونکو په مجمل صورت سره دا موضوع تر څېړنې لاندې نیولې ده مګر زه یې د مشاهدې له مخې د پوره دادنې وړ نه بولم البته ته به زما په بېلتون ډېر خواشیني یې مه خواشیني کیږه ژر به موکه خدای کوله دیدن سره وشي زما دصحت له خوا پوره خاطر جمعه اوسه او پر ټولو نیږدې و لیرو دوستانو مې ډېر سلامونه وایه.

دا لامر هدی د کلي دریمه کړدی
ستا ورو او د وطن خادم (لارنس)

* * *

مطلب دا دی چې د دې زحمت په سفر کې يې چې دمخه په لنډه صورت سره اشاره ورته وشوه د برې زرې کلاوې او د عيسويانو د افتخار خلې وليدله چې زړه سختو مسلمانانو له خاورو سره برابر کړي او خپل د انتقام اورونه يې په مړه کړي وه. په دې کلاو کې به د يورپ د زلميانو ارواحو پر غاصبو غليمانو باندي نفرت وايه او له اوسني نسله څخه به يې د خپلو کسات اخيستو تقاضا کوله دا کينه کښنه عرب چې په هغه وخت کې يې د يورشلم ساتونکی په يوه يرغل سره برباد کړه نن ورځ د ترکو تر استعماري سلطې لاندې داسې راغلي دي چې هيڅ بنور نشي خوړلای د تيرو ظلمو او تيريو په بدله کې اوس د دوی د خپلو مسلمانانو له طرفه څخه هغه ظلمونه پرې کيږي چې زه يې پوره بيان نشم کولای نه يې حوك د ديني شرافت او حضرت رسول د قوميت پاس ساتي او نه يې د تېر مجدو عظمت لحاظ لري کور په کور يې د بديو او بې اتفاقيو اور په کې بل کړي دي د شخصي گټې او جاه و جلال د لاس ته راوستلو په لار کې يو پربل باندې حملې کوي زه دا نه وايم چې ځينې مصلح او آزادی غوښتونکی خلك نشته په کې سته مگر ډير محدود او بې ملاتړه دی

دغې محدودې وطندوستي طبقې به زمونږ له وطن دوسته لارنس سره ډېره مينه درلوده اما د ترکانو له وهمه څخه يې پوره زړه نه شواى ورنيژدې کولاى. تاسې ته به معلومه وي چې نورو جاسوسانو يا سياحانو په وطني جامه کې د عربو ټولې مځکې تر پښنو کښلې حتى تر مکې معظمې او مدينې منورې پورې رسېدلي دي مګر د خپلو کړو وړو او شکلو شباهت په لحاظ سره چا نه دي پېژندلي اما لارنس په هر ځاى کې سرو وېښتانو او شنو سترګو په بلا کې ايستلى او له مشکلاتو سره مصادف کړي دي که د ناطقې فصاحت او د پوهې چالاکۍ ورسره ملګري نه واى نو ډېر ژر به يې د دار رسۍ و غاړې ته لوېدلې او هومره لوړ خدمتونه به يې نه واى انجام کړي وايي سربېره پر دې باندې لا په بعضو وختو کې د ټوپکو ډزې پر شوې او د مرګ پتې توطيې يې ورته ترلې دي خو ده د پاخه تدبير او صبر او حوصلې په مرسته د هغو ژر حل کړي ا مخالفان يې د احسان په پڅه حربه سره داسې شرمولي دي چې بيا يې له ډېره خجالته څخه سترګې نه دي پورته کړي. پرته له دغو بيان شوو سياسي چالونو څخه يې فطرتي زړورتوب لکه څنګه چې له يوه عسکر سره ښايي هم در لودې د صليبي جنګو د تاريخ ژورې مطالعې هم له ده سره په دې لارکې کومك کړى او دا صلاحيت يې په کې ايښى و چې د زرو کالو مخ کې ژوند تصور په ښه صورت سره وکولاى شي.

هغه اثر چې وروسته تر راغبرګېدو يې د عربې آثارو په نامه سره وليکي د آکسفورډ د کالج د استادانو له طرفه يې زښت ډېر قدر وشو او د عربي نړۍ د غونډيو. ښارونو. بيابانونو. او نورو نامعلومو ځايو د تفصيل له حيثه څخه يې يو عمومي مقبوليت هم پيدا کړ.

يو زده کوونکي وايي لارنس د خپلې وظيفې ترسرته رسولو وروسته چې بېرته هېواد ته راستون شو يو دوه عربي نژاده زلميان چې اوږده کميسونه يې اغوستي او اوږدې ږيرې يې درلودې له ځانه سره راوستله چې د شپې به له ده سره په اطاق کې يو ځای بيديدل او د ورځې به زمونږ په کالج کې سات په تېرو. مګر روز نه عجب شي ده څو عمر پس دا زلميان د صحيح تربيت او ويښ ماحول له برکته څه د ګرندي موټر د انجنيرۍ په اصولو داسې پوه شول چې زمونږ پخو کسب کارانو به ګوتې په غاښ کې ورته نيولې وي يوه ورځ مويو له دوی څخه چې د سرکس د اوزګړي په نامه سره مو سوم و د وې نيژدې عجايب خانې ته بوتی هلته چې يې د خپل هېواد مهيب ځناوران وليدل نو يې د يو عالم تعجب او حيرانۍ په عالم کې وويل:

(( دا حيوان خو غير له منتره او سحره څخه څوك په بل شي سره نشي نيولای تاسې په څه چل سره ګير کړي او تر دې ځايه پورې مو راوستلې دي؟)) د ده پردې نامعقولې وينا باندې ټولو ته خندا ورغله يوه به د ټوکو په صورت سره يو راز او بل به بل راز ځواب ورکاوه.

وا مو رویدل چې له دې ساده ګانو څخه زمونږ له روزلو سره پخپل وطن کې ځنې وحشي حرکتونه کېدل او د معیشت طرز په موئی ګاهې په سحر او ګاهې په ناوړتوب او بې تهذیبي سره تعبیر اوه ښه یې ویلې دي چې فطري غریزه پر کسبي غریزه باندې غالبه ده او هر شی بېرته و خپل اصل ته رجوع کوي.

په ۱۹۱۳ عیسوي کال کې د مصر د حکومت د (سینیا) د فوځي نقشي حاصلولو د اصرار په اثر کرنیل نیوکامب د دې کار په انجامولو سره مامورشو او د ترکیې له حکومت څخه یې د ملك د پیمایش کولو اجازه وغوښته شوه مګر متاسفانه قبوله نه شوه دې مجبوره شو د قدیمو آثارو د لیدلو په نامه سره یې یوه موقتي اجازه د ځینو سختو قید او شرط په داخل کې حاصله کړه چې د لارنس په مرسته به بې په ظاهره تاریخي آثار مشاهده کول مګر په باطن کې یې خپله اصل وظیفه سرته رسوله څو هغه و چې په ډېره لنډه موده کې یې د خپل زیار او زحمت په برکت سره داسې نقشه ترتیب کړه چې له اصلي نقشې څخه یې هېڅ فرق نه کېده د ده دا کار د دې فن د ماهرینو له طرفه څخه د ډېر تقدیر وړ وبلل شو.

په ۱۹۱۴ عیسوي سنه کې چې لارنس اکسفورډ ته راغوښتل شوي و ناڅاپه د مصریانو او ترکانو په منځ کې د انګلیسانو په تحریك سره جنګ ومښتې په دې وخت کې کرنیل نیوکامب د کومې وظیفې لپاره فرانسې ته تللي و او هغې ترتیب کړې نقشې یې د حرب وزارت ته پوره لارشودنه نشوای کولای نو د

مجبوریت له مخې څخه ولارنس ته رجوع شوې او نظریه یې په دې لار کې وروسته تر هغه موثقه وبلله شوه.

کله چې د ده اهلیت او لیاقت د نوموړي وزارت لوړو مامورینو ته له هر حیثه څه د ډاډنې وړ ثابت شو نو یې د (سیکنډ لفټینټ) عهدې ته جګ کړ مګر ده دا درنه وظیفه تر ځان لوړه ګڼله نو ځکه یې و خپل ورور ته په دې باره کې داسې ولیکل:

(( ګرانه وروره!

ډېره درنه وظیفه په غاړه کې را لوېدلې ده چې د جسماني کمزروتیا او عدم لیاقت له حیثه څخه یې ترځان لوړه بولم دعا را ته کوه چې د خدای په توکّل او د حضرت مسیح د روحانیت په برکت سره یې تر عهدې ووزم

ستا ورور لارنس

(( د حرب وزارت د نقشې ترتیبولو دفتر))

دا خو یوه منلې خبره ده چې فعال او باکفایته شخصیت په هر ځای کې د هم مسلکانو د سترګو خار وي او کوښښ کوي چې په یوه ذریعه د ذریعو یې بد نام کړي.

نو د همدغې کلیې په اساس سره دی له دغې وظیفې څخه موقتاً ایسته کړ شو او بېرته قاهرې ته د یوه پټ خدمت په سرته رسولو سره مامور شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی بې تمیزیو د ده ټینګ عزم ته هېڅ خلل ونه رساوه او نه کوم
نارضایت څنې ښکاره شو په ډېر فعالیت سره یې د دغه سپارل
شوی کار وسرته رسولو ته ټینګه ملا وتړله. زه دا منم چې له ده
سره په انګلستان یا قاهره کې د سترو خدمتو په موازنه سره
انصافانه کار ونه شو مګر د صحیح کرکتر او پاخه مسلك
څښتنان صرف د خدمت د انجامولو په عشق کې ډوب دي. د
چا د تقدیر یا نه تقدیر پروا نه لري.
د ګمارل شوي خدمت په سلسله کې پس له څو عمره څخه
وبصرې ته ولاړی او هلته له (مس کرټروډبل) نومي جاسوسي
سره چې په ډېر زحمت او تکلیف یې ورځې او شپې تېرولې یو
ځای شو په زحمتو او تکلیفو زغملو کې پس له ده څخه دغه
ښځه د ډېر تقدیر وړ ده لکه څنګه چې دی یې پخپلو یاداشتو
کې هم ډېره ستایي او لیکي چې زما د دغه لند سفر شپې
ورځې له دغې مهرباني ښځې سره ډېرې ښې تېرې شوې خو
متاسفانه چې د حرب وزارت ژر د جنګ د ډاك د زخمیانو
ټولولو په نګرانی سره مامور کړم چې پس له څو ورځو څخه مې
د مړو د لاښودبدبوی او مکروبو له لاسه څخه صحت پر مخ
خراب شو خو سربېره پر دې مې له خدمته څخه ډډه ونه کړه او
د ترکانو د سپیني جنډې په مقابل کې مې په ډېره مېړانه سره
ټټر سپر کړ.
ګرانو لوستونکو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې باید د ده له دې تذکر څخه چې د ځان په حق کې یې وکړ په اشتباه کې و نه لویږي.

پرته له دې یې د هغې زماني متقاعدو منصبدارانو هم د دغه خدمت تصدیق کړی دی مګر زما په عقیدې سره یې باید د دې هومره خدمتو په مقابله کې دي وړوکي خدمت لره څه اهمیت ورنه کول شي تا سې پخپله قضاوت وکړئ کوم سرباز چې په سوو میدانو کې پخپل سر سره لوبې کړې وي او د وطن د چوپړ په لار کې یې له هیڅ شي څخه مخ نه وي اړولی آیا کیدای شي چې په دې دونه خدمتو کې دې یې یو وړوکی خدمت مدنظر ونیول شي؟

د کانال سویز په اړه د وړکي په داسې حال کې چې هم یې عکسونه اخیستل او هم یې جنګ کاوه ناڅاپه د ترکانو د یوې ټولی د یرغل راوړلو په اثر سره نیژدې و چې ګیر شي اما د فطري زړور توب او عسکري چالو په زور سره یې د انګلیسانو د شاوخوا لښکرو تر یرغل راوړلو پورې ښه مقاومت وکړ چې په نتیجه کې مقابل طرف مات او دی زخمي په وینو ککړ و خپل کیمپ ته بوتلل شو وایي په دې محاذ کې پرته له فوټوګرافی څخه د نقشې د ترتیبولو کار هم رسماً ور سپارل شوی و. ضمناً به یې د ترکانو د مرتبو پلانو پټ کشفیات هم کوله له ډیره فعالیت څخه یې نه د شپې خوب درلودې نه د ورځې مطلب دا دی چې په دې سره یې خپلو هم مسلکانو ته دا پوره ثابته کړه

چې زما صحیحو نقشو او پلانو نسبت ستاسې نقشو. پلانو ته د لښکریانو ښه لاربښودنه کړې ده.

یو منصبدار لیکي چې د دې خدمتو تر سرته رسولو وروسته بصرې ته د یوه پټ راز معلومولو په غرض ولیږل شو چې د هغه د کشفېدو او نتیجې لاس ته راوړلو په باره کې یې خورا ژر خیلي مربوطې قوماندانۍ ته ډاډ ورکړا او پر ځینو نظریو باندې یې چې په بعضو حالاتو کې مدنظر نیول شوي وي سخت تنقید وینو نو ځکه د یوه نوي سکیم تر ترتیبولو پورې هلته د تالید امر ورکولی شو د حق او حقیقت له مخې څخه وایم چې د ده اهلیت او لیاقت پخپل فن کې یو منلی حقیقت و چې هیڅا انحراف نشوای ځیني کولای ده ته د مشاهدې او پخې تجربې له مخې څخه دا معلومه وه چې د انګرېزانو لښکرو ته په فلسطین کې د کوم علت له وجهې څخه مشکلات پېښ شوه؟ او ترکانو ولې په خپلو پلانو کې داسې لویه سهوه وکړه. لا ر د کچز په څه ډول سره د عربستان په وکړو کې د آزادۍ روح پیدا کړ؟ یا یې حسین د ترکانو او مخالفت ته وپاڅاوه وایي ده د عربو او ترکانو د مخالفت د علتو په اساس سره ځان هلکف وباله چې له موقع څخه استفاده وکړي او ډېر ژر د خپل یوه ټینګ ملګري په لار ښودنه مشوره سره یوه داسې نقشه ترتیب کړي چې دهغه له مخې څخه انګرېزان د ترکانو په مقابل کې په سلو کې سل کامیابانه اقدمات وکولای شي په دې لار کې به یوې بلې تجربه ناکې جاسوسۍ چې په عربستان کې وظیفه ورکول شوې وه هم

مرسته ورسره کوله او په بعضو ځایو کې به یې د نظریو ټینګه طرفداره وه.
دې پخپلو یاداشتو کې ملګرو ته په عربو کې د مرام وړاندې بیولو پر امکاناتو باندې داسې توضیحات ورکړي دي په عربستان کې غیر له مذهب او یا اسلامي قیوداتو له پابندۍ څخه په زور سره څوك مقصد لاس ته نشي راوستلای لوړیره پریږده. اوړده کالي واغونده. اوږدې تسبیح اړوه. په لمانځه کې خضوع و خشوع زیاته کړه هر څه چې دې زړه غواړي هغه کوه څوك څه نه درته وایي ږیره خریل او یا د تمدن په لباس سره ملبسېدل په کې لوی آفت دی بالفرض که څوك له ذکر سوو مقرراتو څخه لږ څه مخالفت وکړی فوراً په کفر سره متهم کیږي او ټوله په خورا بد نظر سره ورته ګوري یعنې د ګرده عمر عبادت یې یو بې فایدې او عبث کار ګڼي لنډه دا چې د دوی ټوله تمایلات پرلوږیره اوږ دو تسبحو او اودس باندې منحصر دی بل د قومي تعصب په نرۍ اشاره سره د بعضو افواهو او بې حقیقته پرو پاګنډو له لارې څخه ژر یو د بله سره لمسول کیږي نو اوس لا درته وایم که بالفرض په درسپارل شوې دنده کې مو ذکر شوې مقررات مدنظر و نه نیول په یقین سره وپوهیږې چې ټوله مسلمانان به په یوه سلاسره د صلیبي جنګو کانې راوکړي له یوې خوا څخه به عسکري تلفات راورسیږي او له بلې خوا څخه به وترکانو و جرمنیانو ته د کسات اخیستو ښه موقع په

لاس ورشي چې له مسلم ایمپائر سره د جګړې په قیام کې ښکاره ګډون وکړي.
زه پخپل زغم له حسین سره په غیر مستقیم صورت تماس پیدا کول او په هره ممکنه مرسته سره یې خوشحالول یو مناسب او پرځای اقدام بولم ښایي چې په دې لار کې به د صلیبي جنګونو د مشکلاتو د تاریخ کتنه زما د دغې نظریې پوره تائید وکړي.
د لارنس د صحیحي نقشې او پخو نظریو په اساس سره چې د پورتني لیك مثبت هدایتو نه هم ورسره ملګري وو لارډ کچنر وکړای شوای چې په غیر مستقیم صورت سره د مکې حج کوونکي او زائرین د شریف طرفداره کړي او له ده څخه د هغې ویرې په اثر سره چې له ترکانو څخه یې په زړه کې درلوده پوښتنه وکړي چې ته د بغاوت کولو طرفداره یې که یه؟
ډېرو معتمدو او رښتیا ویونکو کسانو ویلي دي چې لارنس دمخه تر دې په قاهره کې د انګریزي ماهرانو په وړاندې د ذکر شوو ګذارشاتو تذکر کړي او کماندر هوګارت یې مجبور کړی ؤ چې د قلزم د بحیرې له لارې څخه د حقیقت معلوملو په غرض و خوځیږي مګر تر دې خوځېدو د مخه اطلاع ورسېده چې جګړه ومښتله او شریف حسین د اتحادیونو د ملګري اعلان په ښکاره ډول سره وکړ. تاسې به ګمان کوئ چې د دې انقلاب اور په چیرې صورت سره بل شو مګر داسې نه ده زمونږ د دې مدبر جاسوس مهیجو ویناو او په زړه پورېو پرپاګندو پخوا تر دې لا د

هغو خلکو بیده احساسات داسې په ښور راوستلي وو چې ېپله جنګه او مرګ څخه په بل شي سره نه سرېدله.
وايي د دې مهمې وظيفې تر سرته رسولو او نتيجې اخيستو وروسته نوموړی د جنګ د خپرولو او پراخولو په غرض سره د عربستان لورته ولیږل شو او هلته يې د جاسوسی يوه لویه دستګاه جوړه کړه بيايې د يوه مذهبي شيخ په صورت سره په لاندې ډول پلانونه تر اجرا لاندې ونيول.
لومړی يې د مذهبي او اولسي مشرانو زړونه لاس ته راوستل پس له هغې يې شريف د يوه اسلامي مقتدا په حيث سره دوی ته معرفي کړ چې په دې سره يې له ترکانو سره د هغو بغض په زړو کې زيات او د جنګ اور ته يې تر پخوا لاښه لمنه پسې ورکړه يو سيلاني وايي د هغه ځای د لخ ولپړو وګړو احساسات تر دې اندازې پورې پارېدلي وو چې په تش موټي او زنګ وهلو تورو سره يې د ترکانو و مسلحو لښکرو ته داسې ماته ورکړه چې هېڅ تصوريې نه کېدی په همدې جلادت او بهادری سره يې له يوې خوا څخه دنيا ته خپل عملي سياست ښکاره کړ او له بلې خوا څخه يې د استعمار منحوسه کمبله له خپل هېواده څخه تړله او استعمارچيان يې ښه وشرمول.
په ۱۹۱۶ عيسوي سنه کې چې لارنس له سويز کانا له څخه د مستېر او نالډ په ملګری د عربستان په لور روان شو د ببړی د سوکه تګ په اثر سره يې د شاوخوا د ټولو ساحلو ښه ننداره وکړه بل يې په دې پلا سفر کې له بوی خوا د نوموړي ملک د

مسلمانانو پر مذهبي شعايرو باندې پښېړو قوفيت راغی او له بلې خوا ملي عنعنات او قومي دودونه چې د جاسوسۍ په فن کې لوړ اهميت لري ورمعلوم شول.
يو سياح اظهار کوي چې د نومووړي کښتۍ مشرماته وويله چې د لارنس زړور توب ته د طوفان د پيښيدو په حين کې زه هك پك ولاړ وم نو ومې غوښتله چې په کومه پلمه سره په مجلس ځان ورسره اخته کړم او د دغو پوښتنو په ذريعه سره معلومات لاس ته ځنې راولم د کښتۍ مشر: ښاغليه تاسې کوم ځای ته د تګ نيت لرئ؟
لارنس: جدې ته
د کښتۍ مشر: په دې نازکه موقع کې سياحت کول امکان لري؟
لارنس: البته
زما دې څو پوښتنو او د ده دغو مجملو ځوابونو د (مسټر استورز) په زړه کې څه شك پيدا کړ غوښته يې چې په مفصل صورت سره معلومات ځنې واخلي خو د هوا د انقلاب او د جدې د نژديکت په اثر سره يې موقع پيدا نه کړه او هغه پټ ارمان يې په زړه کې هغسې پټ پاتې شو.
د سپېدو چاودلو پر مهال باندې په داسې حال کې چې د اوبو باډا سکو او د وچې باد چلېدلو دوام درلودی ناڅاپه د ساحل د ريګو کوټې ښکاره شوې او د وچې د مرغانو چرو چوري واوريدل شو په دې وخت کې په ټولو سانتوتله اړ د ژوند اميدونه يې پيدا شوه د ورځې پر دولسو بجو باندې بېړۍ لنګر واچاوه او

د څو شواروزو اضطرابي حالت داستان پر دې ځای باندې سرته ورسېدئ. سمدستي زمونږ د لارې خوږ ملګری لارنس د کرنيل نيلسن په لارښودنه سره د انګلستان قونسل خانې ته بو تلل شو او مونږ په يوه نيژدې هوټل ننوتلو.

يو ليکونکی وايي لارنس راته وويل چې د جدې ريګستاني ښار د ناپاکو کوڅو او اومو عمارتو له حيثه څخه د يوه مقوايي ښار په څېر سره راته و ايسيدئ چې د بوالهوسی له پاره جوړ شوی وي.

دا د انګلستان د وطن دوستی ښکاره ثبوت نه دی څه دی چې محبان يې د خدمت لپاره له لندن غونډې ښکلي ښار څه پر ديسان کيږي او د عربستان په وچو ريګو کې د لوږې او تندې په حال کې شپې و ورځې سباکوي که له لارنسه سر د وطن د محبت او د وظيفې د اهميت فکر موجود نه وای نو به يې سره ببره پر ذکر شوو تکليفو باندې داسې ژر د پاچاله دوهم زوی عبدالله نومي سره ملاقات نه کاوه او د هغه خواشيني به يې چې د مرستې د نه رسيدو له حيثه ورپېښه وه په هره ممکنه سعيه سره په خوښې نه تبديلوله څو په هر صورت سره زمونږ ستاسې هر فرد د ژوند تر وروستی تاپې پورې د وطن پوروری دی او دا پور په تشوخبرو يا کاغذی ليکنو سره نه ادا کيږي بلکه د ښارګو په وينو يا د سوځوونکو ريګو په زحمتو سره يې غاړه وزي.

ببرته اصلي مطلب ته راځم کله چې لارنس د پاچا له دوهم زوی عبدالله نومي سره وليدل نو هغه د څه خواشيني په اثر سره چې د مرستې د نه رسېدلو له حيثه څخه ورته پېښه وه د کوم التفات په نظر ورته ونه کتل او د خبرو په ترځ کې يې د ګيلې په ډول سره لا دا هم ورته وويل چې تاسې خو هغه بدقوله مطلب پرسته خلك ياست چې په تشو وعدو سره مو د مسلحو او قوي ترکانو په مقابل کې ودرولو اوس نه زس رارسوي او نه د نفر کومك راکوی ده خوا رسربېره پر دې چې نه يې د انګليسانو عسکر کومك ته ګمارلای شوای او نه يې په دې لنډه موده کې د دې ځای د معتصبو مسلمانانو په منځ کې کوم درر اچولای شوای د هغه ساده تولواکځی کدورت او خواشينی له يوې بلې خوا څخه په يوه داسې خوشحالي سره تبديله کړه چې چايې د تېرې خوا بدې هيڅ تصور نه شوای کولای. او بل يې ضمناً دا هم ورته مدلله کړه چې انګليستان ستاسې د خاندان په حق کې ډېر ښه ښه فکرونه لري او کوښښ کوي چې تاسې ژر د خپل مقصد و معراج ته ورسوي.

پسله دې څخه يې وغوښتل چې د ده يا د ملك حسين په وساطت سره له فيصل نومي سره چې ټوله حربي کارونه يې په اراده اجرا کيږي تعارف پيدا کړي خو تر ټولو ښه ذريعه يې د ټولواك هغه ليك شو چې څو عمر د مخه د نوموړي په عنوان صادر شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ملګري يې وايي دمخه تر روانېدو شاه د ده په افتخار سره يوه درنه مېلمستيا هم ترتيب کړې وه. چې په هغه کې سرېېره د عربو پر مخورو باندې بعضو انګرېزانو هم په پټ صورت سره حصه اخيستې وه د يوې ډلې موزيکه والو له خوا څخه به ځينې محلي آهنګو نه بولل کېدل چې دوی به سرونه ورته غورځوله مګر مونږ ته يې هېڅ خوند نه راکاوه دا هغه موزيکه وال وه چې دوی په جنګ نی له اسبابو سره ګير کړي او هره ورځ به يې سهار مهال شاه ته د جرمنيانو يا ترکانو خوندورې ترانې ويلې چې په دې سره به يې د هغه احساسات د دې اضطراري ژوند په حال کې په ښور راوستله او ضمناً به يې هريوه کوښښ کاوه چې د جذاب آهنګ په ويلو سره ځان د انعام مستحق وګرزوي دا خو يوه منلې خبره ده چې له سياسته څخه بې خبره وګړي. د دښمن د ښکنځلو په کنايو هم نه پوهيږي او له هغه څخه د يوې ادبي پارچې په څېر سره خوند اخلي نومونږ او تاسې په دې اساس سره پردوی باندې د اعتراض کولو حق ته لرو.

مطلب دا دی چې په دې ځای کې د وظيفې تر سرته رسولو وروسته لارنس له شاه څخه خدای په اماني واخيستله او سم له خپله پلان سره د (ربغ) په بندر کې د نومړي له منځوي زوی شرف علي نومي سره ملاقي شو په لومړي پلا کې هغه د ناشناختې له وجهې له ده سره کوم دروند سلوك ونه کړ مګر وروسته يې د نومړي سپارښتن ليك په اثر سره له خپله وضعيته څخه خجالت وخوړ او خورا ډېره معافي يې وغوښتله.

اما دا ساده تر پایه پوره په دې سر پوه نـه شو چې پـلار یـې د ده په لیږلو کې مشر ورور ته څه مقصد لري. خو خورا ژربې یـم لـه لیکلي هدایته بې پوښتنې ګرویږنې په یوه رنګینـه کجاوه کې د دریو بلدو عربو په لار ښودنه سره په وطني کلو کې مخ د فیصل پر خوا روان کړ په لار کې سربېره پر لوږو تندو یا نوروتکلیفونو باندې د سترګو یو شدید درد هم ورپېښ شو چې نه یې د شپې طاقت کېده او نـه بـه د ورځې دا لاپریـږده پـه یـوه ځای کـې یـو بېګانه سړی ور سره مل شوی و چې لـه وضعیتـه څخـه جاسوس ښکارېدی کله به یې د خبرو طرز په شامي لهجه او کله به یې پـه مصري لهجه سره اړوه په هره لهجه سره چې به یـې پوښتنـه وکـړه ده به سمدستي په هغه لهجه سره داسې ګونګ ځواب ورکـړ چې هیڅ نتیجه به پرمرتبه نه وه څو تر یوه شواروز مزل کولو وروستـه هغه پوه و چې کوم مقصد لاس تـه نـه راځي خوشې پېښې ورسره شنې کوم بېله خدای په امانی څخه یې بله لار واخیستله او دوی د ځانو له وېرې څخه چې نه باید کوم فسـاد مسـاد جوړ نـه کـړي پر بله لار روان شوه.

دا لار نسبت هغې بلې لارې ته ډېره اوږده او مخوفه وه که څه هم د مخه لالارنس ته نوموړي سړي د ترکـانو خلانومـي جاسـوس پـه نظر ورغلی و اما دا ګومـان یـې د فیصـل په حضور کې د ځینو کسانو د اظهار له مخې یقیني شو.

اې ویونکو! تاسې لـره دې معلومـه وي چې زمـوږ د خـاورې دې رشتین خدمتګار په دغه سفر کې نسـبت نورو سفروته د وچنده

تکليفونه وګالل د سترګو درد له يوې خوا څخه او دغو ماشو و خزندو تکليف له بلې خوا څخه ډېر تنګ کړي و بل يې د شپې د مزل کولو له حيثه څخه نې غه خوب هم نشواى کولاى تقريباً دولس شواروزه (شبانروزه) يې د دغه تکليف په حال کې تېر کړه د ديرلسم شواروز د سپيدو چاودو پر مهال باندې د الحمرا دوادې خوله او د کيمپ د کړديو او عمارتو سرونه معلوم شوه دلته يې نو د څو ورځو استراحت کولو په اميد سره زړه خوشحاله شو ايا ستاسې زړونه لوېږي چې په دغه رسيدو سره به يې تکليفونه خاتمه پيدا کړي: او يا به يې د خوب پر مهال باندې په بېغمۍ سترګې سره ورغلې وې؟

داسې نه ده پسله دې هغه زحمتونه لوړې او تندې پر ورغلې چې ذکرشوي زحمتونه او تکليفونه ور پورې هېڅ وه د وظيفې مينان خو چې د قوم او وطن د محبت اور يې په درونو کې بل وي د ربنتيني عاشق په څېر سره شپه و ورځ آرامه نه لري او د اصلي هدف د لاس ته راوستو په عشق کې يې مال. اولاد او حتی ځان ته لا پام نه وي يو ليکونکی پخپل راپور کې ليکي چې د ځانبنت پروخت باندې يې اوبنې د کېمپ د عمومي مهمان خانې له مخې سره ګونډه کت کړه ده به لا لږ استراحت او يوګړی خوب کاوه چې يو بريتو عرب راغی او د عمومي قيامګاه تګ ته يې مجبور کړ. د شاهي قصر په خوله کې يې يو جګ قدی. ډنګر زلمی چې سپين بخون د رېښمن کالي يې اغوستي او زرين چلتار يې تړلی و سره له نورو عربي مشرانو استقبال وکړ او يوه

مخصوص سالون ته یې چې پر چارپیر باندې یې مسلح عسکر په غیر رسمي لباس سره راګرځېدلی وه بوتی په دې اطاق کې پرته له مستقبلینو څخه نور کسان هم د جرګې په توګه سره راغونډ شوي وو چې په لومړي ځل کې یې ډېر برګ، برګ ورته کتل مګر تېر تعارف وروسته هر یوه په خورا محبت سره د ښه راغلي لاسونه ور اوږده کړه هغه جګ ځوان چې نروځکې رېره یې د تور نقاب په څېر سره ښکارېدله بېله کومې معرفي څخه ده وپېژاندې چې فیصل دی نو ځکه یې د تعظیم له مخې دوهم وارسر ورته ټیټ او د هغه د زیات محبت مورد یې ځان واقع کړ.
وأیي تر لږ ګړی سکوت وروسته فیصل د جرګه والو په سلاسره د ده خوا ته مخ راواړاوه او د ټوکو په صورت سره یې ورته وویله په دې سفر کې خو به کوم تکلیف نه وي در پېښ شوی که څه هم مزل خورا اوږد او ګرمي ډېره شدیده وه مګر تا سره له نابلدي د خدای په فضل او زماد ګران پلار په توجه سره ژر وسرته ورساوه.
ماته دانه ده معلومه چې ستاسې اوسېدل په دلته به دایمي صورت سره وي که په موقتي.
لارنس په خورا مؤدبانه ډول سره چې له څهرې څخه یې د تصنعي خوښی آثار ښکارېدل داسې ځواب ورکړ:
(( د والاحضرت فرموده ډېره صحیحه ده او د ځان په مناسب توب کې هم هیڅ ویل نشته اما صرف دومره قدر عرض کولای شم چې د مشق زښت ډېر ځنې لیرې دي)) په دې ساده وینا سره چې نه اشارتاً او نه کنایتاً کوم سیاسي غرض په کې موجود و د

حاضرینو په بڼو کې د یو ډول هېجان او تعجب آثار ښکاره شول چې ګویا د دوی په زغم د دې معمولي خواب ورکول هم د شهزاده په لوړ حضور کې یو ډول بې ادبي ګڼله کېدله.
لارنس خوار ته به دې منظرې کله په دماغ کې دغه فکر ور ګرځاوه چې دا وضعیت به د جنګجویانه قوت د توهین په محمولیدو سره یو په زړه پورې اثر وکړي چې په هغه سره به د خپل مقصد منزل ته ډېر ژر ورسېږم او هغه پایلې به ځنې حاصلې شي چې تو له امیدونه مې پورې تړلي دي.
او یا به د دې وحشي عربو په منځ کې چې د انسان مرګ یو معمولي کار ورته ایسي په ډېره بېرحمۍ سره ووژل شم په دواړو حالو کې زه خپل ځان موفق بولم که څه هم خلک وایي په پردېسۍ کې مرګ زور غواړي مګر ما ته د بې ننګۍ تر ژوند بل لوی مرګ نشته.
خو سربېره پر دې اندېښنو باندې به یې کله کله د سترګو تر کنجانو د فیصل تندي ته کتل او د هغه وضعیت به یې تر کنترول لاندې نیوی په هر پلا کتلو کې به ده ته دا متیقنه شوه چې سړی خو را کیندلی او د دې نورو ساده ګانو په څېرسره بې فکره او بې سیاسته نه دي د شرقي حاکمانو ډب کول له دو لارو څخه دي چې یا خپل تفوق پر مادونانو باندې ثابتوي او یا نه غواړي چې د کښته استعداد راز دې افشاشي نو له همدې سببه څخه د ملك د پاچا او یا سردار د خبرې د غبرګېدو حق هېچا ته

نشته که بالفرض کوم چا تخلف ځنې وکړ هغه ته د باغي په ډول سره سخته سزا ورکوله کیږي.
وايي فیصل به سربېره پر درباري وقار ساتلو په خبرو کې چاته لغازونه هم ویل او ځیني وختونه به یې له ځینو خبرو څخه تجاهل عارفانه کاوه نو ځکه یې وروسته تر څو دقیقو سکوت د لارنس پو شا لاس کېښود او د تصنعي خندا په حال کې یې د ریشخند په ډول سره ورته وویل:
که ((دمشق)) له دې ځایه څخه لرې دی الحمدلله ترکان خو خورا رانیژدې دي که څه هم دې نعاز زمونږ پر دېس قاید باندې ډېر بد اثر وکړ اما د سیاسي فضا له خپرېدو له وجې څخه یې سکوت مناسب وبلاه او له ځواب ورکولو څخه یې فعلاً ډډه وکړه.
لارنس وايي د فیصل او نوروشیخانو د سیاسي موضوعاتو له ږغبدلو څخه به ما د خپلې نقشې غلطی اصلاح کولې او د دوی د زړوپه پټو رازو به خبرېدلم چې څه کارونه کېدونکي دي؟ دوی څه غواړي؟ بل دلته ما ته د یوه سړي د معلومات له مخې دا معلومه شوه چې عربي زړه وران د ترکانو د نوې وسلې مقابله په تشو ګېډو د زړو ټوپکانو او موټي ماتو تورو په ذریعه سره کوي او بله کومې اساسي نقشې او یا تیاری څخه خو شکه په خوشکه ځانو نه وژنې تر ټولو لا د تعجب خبره دا ده چې یوه ته د خپلو جنګېدو هدف نه دی معلوم صرف د مشرانو خوښې او د اولجې پیدا کول یې غرض دی بل پرته له دې وجوهاتو څخه د

مصري جبه خانې د شلو کالو په زړو توپکانو سره د ترکانو د عصري وسلې مخ ګرزول يو ناممکن کار دی.

هغه سړی چې ده ته يې د دې وضعيت په باره کې په زړه پورې توضيحات ورکړه دا هم وويل چې مونږ ته اوس لازمه ده چې د راتلونکو حوادثو خيال وساتو او له تېر شوو حلق تلخيو څخه سترګې پټې کړو. تر ټولو لومړی بايد په خلکو کې د اتحاد حس پيدا کړ شي ولې چې په بې اتفاقي هېڅ کار سره له عصري اسلحې مخ ته نه ځي د عربو د جنګ کولو طريقه هم د اصلاح وړ ده تاسې نه وينئ چې پلار او زوی په يوه ټوپك سره جنګ کوي کله چې يې يو سړی شي نو يې دا بل ځنې واخلي بيا يې يو خاندان له بله خاندانه سره په ګډه جنګ ته ځي او هلته فيرونه په واري سره کوي همدغه سبب دی چې د فيصل تکبر مسلسل بدليږي او پر يوه قرار نه وي بل د خوراکي موادو کمبود هم ډېر مشکلات او خنډونه مخې ته اچولي دي که په دې لار کې يو ګټور تصميم ونيول شي ګومان کوم چې حتماً به ښه پايله ورکړي.

په اوس کې د جنګ کولو ښه لار دا ده چې يرغل بايد په ناڅاپه صورت سره وي چې له يوې خوا څخه ځاني نقصان لږ ورسيږي او له بلې خوا څخه ولجې ډېرې په لاس راوړه شي ولې چې د ترکانو فوځيان يا د لوړو کلاوو په برجونو کې مسلح ناست دي او يا يې په لويو ښار وکې پاخه سنګرونه جوړ کړي دي چې په هر وار باراني فير سره د لڅ و لېړو عربو حواس مختلوي ولې به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ورمختلوي آيا په تش لاس سره د احساساتو په زور پر وسله وال غليم باندې برى پيدا كول امكان لري؟ يا په وړي نس سره په هفتو، هفتو ځوك جنګېداى شي؟ يقين وكړه. كه له كومه طرفه څخه دوى ته وسله وركوله شي او په نس ماړه شي نو په خورا لنډه موده كې به په مقابل طرف هغه كانې وكړي چې چا به په چا نه وي كړي.

مطلب دا دى چې د فيصل د مشاورانو ځينو ياداشتو او ياد دې مشاهد پورتينو توضيحاتو د لارنس په زړه كې له عربو سره د فوري كومك كولو مفكوره ټينګه كړه وې غوښتل چې په دې مورد كې لـه خپلو لوړو منصبدارانو سره په مصر كې مفاهمه وكړي نو ځكه يې په خورا چټكۍ سره هغه د تكليف لار چې د مخه پر تللى ود د نيوب (Yanob) د بنار له خوا څخه تر جدې بوړې د يو عالم مشكلاتو په حال كې طى كړه وايي په جده كې يې له اميرالبحر و يمزى سره وليدل او د خپلو انكشافاتو راپور يې د هغه تر نظر تېر كړ ضمناً يې د تګ په عزم كې هم د ځان ملاتړ وګرزاوه دې اميرالبحر پخپلو بېړيو كې د عربو قوماندانۍ لره ځيني نفرې په ملي لباس كې د مرستې په توګه سره راوستلي وو او پخپله يې اكثريو محاذو كې په عملي ډول سره ګډون كړى او ځو واره يې پر تركانو باندې مسلسلې ګولۍ اورولې وې.

لارنس د دې ځاى د كاروترانجامولو او له دې ستر منصبداره سره د افكارو تر تبادلې وروسته خرطوم ته ولاړى او د هغه ځاى

د ګورنر (ريخبالډ ولګېټ) نومي فکر يې د خپلو امکاناتو لوړي ته راوګرزاوه بيا نو د نيل د سيند لِه جنوبي طرفه څخه قاهرې ته ورسيدې هلته يې سربېره پر ډېر کوښښ باندې د جنرال ستاف خيال د ده له خياله سره توافق پيدا نـه کړ ځکه چې هغه ګومان کاوه چې دی د خپلو لومړنيو مشکلو اقداماتو تـر عـهدې ښه وتلی دی بله پلاليږل به يې تر دې لاګټوره نتيجه وبخښي او ټولـه نيمګړي کارونه به په صحيح صـورت سره بشپړ کړي نو لـه دې امله يې په زوره فيصل ته په دوهم وړتګ سره مجبور کړ. که څه هم ده ډېر عذرونه ور وړاندې کړه او په ننواتو يې خلك ورولېږل مګر کومـه پايله يې ونـه بخښله پـه خورا مـات زړه سره بېرتـه (ينوب) ته ستون شو هلته يې وليدل چې په غياب کـې ټول شيان ټيت و پرك شوي او د ترکانو يرغلو ټولـه عرب تر پښوا لا زيات وارخطا کړي دي پـه دې پلا تـګ کې يې بيـا د فيصل او نـورو سردارانو لـه طرفـه څخه تود هرکلی وشو دلتـه نـو لارنس موقع پيدا کړه په داسې حال کې چې د دوی د هر يو لـه تندي څخـه دوېرې آثار ښکارېدل د خپـل کسات اخيستو پـه ملحوظ يـې د پسخند او خندا په صورت سره داسې وويل:
پرتش ډګر باندې خو هر څوك لاپې وهـي مـېړه هغـه دی چـې د رشتيا پر ميدان ټينګ ودرېږي او د خپـل مـرګ پـه قيمت سـره نـورو تـه ژونـد رانيسـي د دې وينا پـه اورېدلو سره ټولـو سـرونه کښته واچول نه يې د "هو" ځواب ورکړه او نه يې د "نه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وطن رشتینی خادم (لارنس) د آمرینو تولي بې قدرۍ او جفاوې چې په دې پلا یا نورو پلاوو کې یې ورسره کړې وې د وطن د عشق په لار کې ګرد سره هېرې کړې په پاك زړه او پاکه عقیدې سره یې د مرام وړاندې بیولو ته ملا وتړله.

د "ینوب" ختیځې خواته د سل میله واټن په اندازه سره د مدینې ښار چې د مسلمانانو په نزد ډېر تقدس لري واقع دی له دې ښاره څخه بیا دمشق ته یو سړك تللی دی چې د فیصل د ورور د فوځي چونې له څنګه سره تېرېږي بیا د دو سوو میلو په اندازه د شمال خوا ته د عقبې د خلیج او ینوب په منځ کې د (وجهی) پر بندر باندې تمامېږي په دې بندرګاه کې د ترکانو په موجودیت سره عرب له دوخواوڅخه تر خطرلاندې کیدل که بالفرض لارنس په مدینه کښې اوسیدل غوره کړی اود (وجهی) ولورته متوجه سوی وای نوحقیقاًبه ئي دااقدام پرځای اونتیجه بخښونکی ګڼل شوی اوڅریوی اندازی پوری به ددې خطراحتمال نه موجودیدای.

وایي په دې پلاسفرکښې په ښکلي چلتار- وریښمینو ملی کالو- زرین کمر بندسره چه جوهر داره پیش قبضه پکښې وهل شوې وه تر هر عربی شهزاده ښکلی ایسیدئ غیرله شنو سترګو- تیټ قده او سره مخه څخه چا دیوه انګریزګومان نه شوای پرکولای حتی بعضو ناخبرو عربو به د فیصل ورور باله او د هغه په ډول سره به ئې عزت ساته په زړورتوب او سخاوت کښې به یې هم په هر ځای کښې ستاینه کیدله- د تقوی او پرهیزګاری ارادت هم د ځینو، ځینو ورته پیداشوئ و، د تعجب خبره لا داده چه په دومره

اوږده موده کښې له ده څخه کوم داسې حرکت صادر نه شو چه ددوی د معاشرت له آدابو څخه دې مغایرت ولري او لرلي فکرونه دې دده په حق کښې پربله خوا باندې واړوي.
وایې کله چې له دې لارې څخه ده ته ددې منطقې د قیادت حاصلولو بشپړ اطمینان حاصل شو نو یې خلکو ته په زغرده سره د (وجهي) د تللو امر وکړ او د ۱۹۱۷ عیسوي سنې د جنوري په میاشت کښې په یوه لویه قافله دده- فیصل او نورو مشرانو په ګډون سره هغه لورته کوچ سوه چه د اوښانو غړغړو- د خلکو شورماشور او د کجاو چغکي یې په دې وچ ریګستاني ساحل کښې یوه هنګامه جوړه کړې وه له دوی څخه به یوه ټولۍ په ډولو سورناسره اتڼ کوونکي تله او بله به یې د موزیکي په تم - تم یاد ټولګي په زړه وړونکو نغمو سره مدهوشه روانه وه د اوښانو په چابکي سره به له سپرو څه سرې جنډې دورېدې.
هیسته کېدنې تودباد به ګاهي له یوه څخه لوپټه و ښویوله او له بله څخه به یې خولې په هواکړه ددې اطمیناني تګ په ترڅ کښې یوې (ګاوې) ته نیژدې ناڅاپه دوه کسه سپاره معلوم شول چه یویې له بنې څخه عرب او بل یې خارجي ښکارېده دلته نو په دوی کښې څه اضطراب پیښ شو مګر دې اضطراب او پریشاني ډېر دوام ونه کړ ولې چه له وضعیته څخه د مغرضینو او مطلبیانو ګومان نه پرکېده څو دښه نیژدې کېدو په نتیجه کښې دا ګومان یقیني شو او معلومه شوه چه یو د انګریزانو پخواني افسر کرنیل نیوکامب اوبل یې ملګری دی دا افسر-

د خپل هم کاره ملګري لارنس په ليدلو سره هومره خوشحاله شو چه له ډېرې خوښۍ څخه يې خپل آس پرېښوده او له ده سره په کجاوه کښې سپورشو ترنيمې ګړۍ پورې يې ښه د زړه خواله سره وکړه بيايې نو د کوم مهم کار د اجراکولو په غرض سره خداى په اماني ځنې واخستله اوپر بله لار رهى شو.

ددوى قافلې ماښام ته نيژدې په يوه هوارډاګ کښې چې شينلى ډېر پکښې وه وارولـه ددې ځاى هوا باران ډېره مرطوبه کړې وه او له راسته پلوه څخه نرى نرى باد هم چليده د شاو خوا پراوسيدونکو باندې د لښکريانو له ليدلو څخه هم غلبه وکړه مګر بعضو باخبرو خلکو په اطميناني صورت سره ورته واضع کړه چه دا زمونږ ددوست فيصل فوج دى غواړي چې پر (وجهه) يرغل ورورې.

لارنس وايې ددې ځاى ساده عربو ته چه زمونږ د جمعيت له ليدلو دا محسوسه شوه چې ټوله نړۍ د ترکانو په مخالفت کښې حرکت کوونکې ده نو ځکه به د شيخانو تر مشرۍ لاندې ډلې، ډلې، راتلې او له فيصل سره به يې دوفادارۍ قسم کاوه زمونږ د کوچ و بار د معطلى لوى علت په دې ځاى کښې له يوې خوا څخه ليرې خلکو ته حال ليږل او هغه جنګ ته رابالل و له بلې خوا ټول جهان د ترکانو له طرف څخه مسموم شوى وو چې بيله پاکولو، څخه يې بله چاره نه درلوده ددې سوکه تګ په حال کښې چې به نن ياسبا د مقصدټکى ته رسيدلو نا څاپه د (وجهى) د فتح خبر را ورسيده او مونږ ټرلو د هارډنګ نومى

اوګوټ د مانوګانو او متحدو عربو په دغه فتح سره زښته ډېره خوشحالي وکړه.

کپتان بائل په اوګوټ کښې لارنس ته ددې فتح ګذارشات داسې بیانوي.

مونږ له بحره څخه د پنځو سوو عربو په ملګرې سره د (وجهی) پر بندرګاه باندې ګولۍ اورولې اوپر ساحل باندې مو پیاده سوو عسکرو له تر کانو سره په دننه ښار کښې لاس په لستوني جنګ کاوه چه په دې وخت کښې نابېره یوه افسوسناکه واقعه پیښه شوه د شاهي هوایي سرویس یو لفټنینټ د بېړیو د ځای ټاکلو په حال کښې د ګولۍ د چاودلو په اثر سره مړشو مګر زمونږ زړورو عسکرو سربیره پردې ضایعه او یاد ترکانو پرسخته جنګیدلوباندې د خدای په توکل او دوچ موټه په زورسره نوموړي ښار فتح او خپل د افتخار بیرغ یې پرونجته په دې فتح کښې خورا ډېر قیمتي اسبابو نه خلکو ته د الجي په توګه سره په لاس ورغلل چه هر نادیده عرب یې په ځایولو پورې اریان و.

کله چې د وړو عربو سترګې ددغوبې شمارو مالو او اسبابو په برمته کولو سره مړې شوې او د فیصل بې قراره زړه ته په دې غیبي فتحه سره ډاډ حاصل شو نو لارنس قاهرې ته دراپور ورکولو په غرض سره سفر وکړ او هلته یې لومړی له جرنیل (کلیستن) سره ولیدل چې هغه ته یې د خپل پلان د صحیحې نتیجې تر تفصیل ورکولو وروسته وویل زه ستاسې د رښ

درنووسلو او ډېرو روېو دژړ رسولو په شرط سره کولای شم چه په لنډه موده کښې دې ټول ترکان له عربستان څخه وباسم دده دې قول تصدیق د نورو حاضرینو له طرفه څخه هم وشو او پخپله جرنیل یې له جدیت او فعالیته څخه خوښي څرګنده کړه ضمناً یې د خبرو په ترڅ کښې د نوموړي با کفایتي اوپوهه پخپل مسلك کښې هم ډېره وستایله خو له بده مرغه یې د فلسطین د اړودوړ او مشکلاتو له حیثه څخه دده ددې پیش نهاد عملی کیدلوته موقع نشوای پیداکولای مګر سر بیره پردې باتدې په بشپړ اطمینان سره دا ور معلومه وه چې په تشو مدبرانه کارروائیوو ترکان ډېر وارخطا کړي دي په حقیقت کښې دېپه دې خپل فکر کښې ډېر تیروتلی و. چه بر منډ عرب یې دده په وچ تدبیر سره بیله ازوغې او نورو حربي لوازمو جنګول او یایې په ساحلي علاقو کښې د بغاوت خپریدل یو معمول کار ګڼه همدغه سبب و. چه په دې پلاکښې لازنس د رس او یا نور کومك دنه رسیدو له وجه څخه په هرځای کښې ناکامه شو او بې نتیجې خپلې فوجي قیام ګاه ته ستون شو وایې دا ستونیده یې یوازې د ناکامی له وجه څخه نه وه بلکه لوی مقصد یې داوه. چې د لښکر د اصلي شمیر او روحیاتو درك ځانته معلوم کړی چه آیا ددښمن تبلیغاتي منابعو خو دارادې کوم تزلزل نه دی پکښې پیداکړی

خو خدای و، چه هلته یې د فوجي قیام ګاه د وړوکي کلي په لونیدلو او یا د فیصل له لښکره سره د شریف علی د لښکر

یوځای کېدلو خواشیني په خوښۍ سره تبدیله کړه او بې قراره زړه یې آرام وموندہ. تر ټولو لا د خوښۍ خبره داوه چې نوموړي قیامګاه ته نیږدې د مصریانو او انګریزانو وړوکي کیمپونه جوړشوي وو چه دوی او هغه به د ضروزت په وخت کښې تګ راتګ سره کاوه.

وایې عرب د ښښو له ویشتلو څخه که په جنګ کښې وي که غیر له جنګ څخه یوشانته خوند اخلي یوه ورځ ځینو عربو د الوتکې پر بم سره لوبې کولې چې نا څاپه وچاوده او خورا ډېر کسان مړه شوه موږ دوه انجینران چه له لارنس سره د توپکو د مرمت کولو او یانور عربي کاروبار د اجرا په غرض هلته تللی وو لیکي: (چه ساده عربو ته صرف یو معمولی کار هم سحرا ایسته او پر هغه باندې پخپلو کښې بېلې، بېلې تبصرې کوي یعنې ځینې یې عامل یوشی او ځینې یې بل شی ګڼي دوی غیر له قبیلوي تفوق او نسلي تنفر څخه بل کار نه لري. خو سر بېره پردې جهالت او نا پوهی باندې یې له لارنس سره د هریوه هومره محبت پیداشوی و، چې هیڅ کار به یې دده بې سلاو مشورې څخه نه کاوه هرکړدی وال به یې بیل، بیل احترام ساته او دیوه لوی شیخ یا ملا په نظریې ورته کتل د (وجهې) د فتحې د جوش وخروش یوه علامه داوه چه د هغه ځای وړوکو، ځلمیانو، زړو او حتی ښځو به په یوه اتفاق سرهډیرغل کولو د امر انتظار یوست ددوی د جنګ او سلحشوری په دې فطري ژوند سره به لارنس له یوې خوا څخه خوشحاله شو او له بلې خوا

ځخه به دښمالي او منځنیو قبیلوبې وفاییو خواشیني کړنو ځکه یې له مجبورتیا ځخه د فیصل په سلا و، مشوره سره د هغو ځایو مشهورو شیخانو ته د قاصدانو په ذریعه لیکونه سره له تحفو واستول او ټینګ خواهش یې ځنې وکړ چه د ترکانو په ایمتلو کښې د پاچا له زامنو سره مرسته وکړي- هلته به په هرشیخ نشیني کښې دده د شخصیت او اهلیت په باره کښې تودې تودې پوښتني کېدلې مګر هغو هوښیارانو قاصدانو به یې هره اشتباه د مدللو دلایلو له لارې ځخه په یقین سره بدلوله ځو په لنډه موده کښې ددوی په همدغه سعیه او مجاهدت سره د ښمن ټول تهمتونه او پروپاګندونه بې نتیجې شول ګردویې له یوه مخه ځخه د شیخانو تر مشرۍ لاندې د فیصل د کیمپ لورته مخ ونیوه دلته چه به په ډېر مؤدبانه صورت سره له دوی ځخه لوړه واخیسته شوه بیا به سره له زیاتو تحفو او انعامو د حربي قوماندانۍ د اوښانو په ذریعه سره وخپلو ټاټوبو ته رسول کېدل نومورو انجنیرانو د خپلو یاداشتو په بل ځای کښې دا هم لیکلي دي چې د لیرو صحراو، عربو به داسې زاړه ټوپکان مونږ ته د مرمت کولو په غرض سره رالیږل چې پریوه کنداغ به یې دیرش پتري وهل شوي وو او چا غماغو یا میلانو به یې د جوړېدو قابلیت نه درلوده کله به ورو شیخانو د زړو وسلو د ترمیمولو په پلمه سره ځانونه د کیمپ عمومي مهمان خانې ته رارسول او دلته به یې هفتې، هفتې او میاشتې، میاشتې تیرولې کله به بیا د تیرې زمانې زړې تورې راوړه شوې چې په

لاستو کښې به يې قيمتي جواهرات کارشوي وو لارنس به دغه توري په لاس کښې په ډېر حيرت سره اړولې او د منځنۍ پيړۍ د شاندارو يادګارو ګومان يې پر کاوه.
د ليرو ځايو عربو په تګ راتګ کوم قيد نه دلوده پخپله مرضاسره به جنګيدل او پخپله مرضا سره به کوروته تلل حتى د قهوې ديوې پيالې څکلو له پاره به يې هم جنګ معطل کاوه موږ ته امرشوی و، چې ددوی دهر ډول بد وضعيتۍ په مقابل کښې به تندي نه ترشوو او په يوه ذريعه سره د ذريعو به يې که دپيسو له لارې څخه وي که د خدمت له لارې زړونه ساتو تاسې باور وکړئ چه داسې ټوپکان به يې موږ ته د ترميمولو له پاره راوړل چې هېڅ د جوړيدو قابليت به يې نه درلوده مجبوره به شوو يابه مو په نوي ورسره بدل کړل او يا به مو هغه زاړه، وراستنه ور ترميم کړل مطلب دادی چې هېڅ وخت کښې مود نا لفظ پر خوله نه ورته راووړه او هر ډول بدسلوکيو ته مويې ټټرونه دغره په څير سره سپر کړي وو ددې منطقې قايد (لارنس) بيچاره غير له دې څخه چه احساسات يې ورژوبندي کړي په بل صورت سره ددوي ددغو وحشتو او بربريتو مخ نيوی نشوای کولای د نابلده او باز په څير سره به يې کله يوشي او که بل شي ته لاس اچاوه د مشيرانو او مخورو رايه داوه چې راساً دې پر مدينه باندې يرغل وروړه شي مګر ده د ذکر شوي وضعيت يا عدم اطمينان له حيثه څخه دا کار مناسب نه باله وايې چې له يوې خوا څخه داورمعلومه وه چې ترکانو په هغه ځای کښې ټول

محاذونه قوي کړي دی اوله بلې خوا څخه يې په وړو عربوويسانه درلوده پرته له دې وجوهاتو څخه يوداسې سړی د مرستيال په حيث سره ورته رالېږل شوی و، چې په رسمياتو کښې به يې شخصيات ورسره پالل يعنې د تيرې دښمنۍ په اثر سره يې دده بدنامۍ ته بدې راغښتې وې د وظيفې اهميت يا خدمت د مقدس والي پاس يې هيڅ نه درلوده نه يې پخپله کار مخ ته بيولای شوای او نه يې دې کارته پرېښووه تر دې اندازې پورې بې مغزه او بيعقل و، چې جاهلو عربوبه يې لاپرېږي سياستۍ باندې خندل او دده بيډون بدن پيښې به يې کولې.

يوه ورځ دکمپ شاته لارنس اوفيصل په بعضوموضوعاتوکښې مشوره سره کوله چې يوعرب په ځغاستاراغی اوفيصل ته ئې په غوږ کښې په پس پسۍ څه وويل بيرته ژرولاړي فيصل لارنس ته مخ ور واړاوه په خنداسره ئې وويل : " اعدا " راغی ګوندی خدای وی چه دغه پهلوان په مرسته سره موداشليدلئ کارمخ ته ولاړشی دوی لادغه خبری سره کولې چه د خيمې پيخول پورته شو اويوجګ قدی ښکلی ځلمی چه نروڅکي ږيره او اوږده بريتونه ئې درلوده سره له پنځلس کلن زويه داخل شوترسلام اوتعظيم وروسته ئې دفيصل لاسونه مچ کړه بيائې خورا په مؤدبانه صورت سره په لوړ آواز شوواره داوويل اې زمونږ دسرتاج اودټول اسلام خيرغوښتونکي بيله تاڅخه مونږ دبل چا قيادت نه منو يوه شپه " لارنس " دعربو مخوروته پردسترخوان باندې دبعضوجنګي تعليماتواوعصری اسلحوداستعمال په باره

کښې توضیحات ورکول چه ناڅاپه " اعدا " په خورا چیغواوغلبلوسره له خیمې څخه ووتې اودباندې دیوه شي دکوټلو آواز هم واوریدل شو دې حرکت ټول مجلس په حیرت کښې واچاوه او ورپسې ګرده حاضرین ددرك معلومولو په غرض سره وروتل وې لیدله چه نوموړي خپل مصنوعي غاښونه په ډیرغضب سره کوټلي او وایي مامعاف کړی چه دخپل بادارپاك خواړه مې دترکانو په دغونجښل سوو مرداروغاښو سره وژوول .

دده په دې وفاداری اوځوانمردی سره دفیصل تندی دګل په شان وغوړیدئ اوله ډیری خوښۍ څخه به ئې کله دیوې خوا اوکله دبلې خوا خلکوته وکتله اوپه لوړ آواز سره به ئې څو واره دا وویل زمونږ وفاداری اوزړه ورتوب چه به دچاوچاوزړه ته نه لویدئ اویابه ئې یوراز و بل رازفکرونه اووسوسې په دماغ کښې ګرځیدلې نواوس دی راښې په پخوسترګوسره دی یو واردامنظره وګوري )

وایي لارنس دمخه تردې واقعې " اعدا " ته دیوه معمولي سړي په نظرکتل اویومطلب اشنا اوپه خپل چاروکی ئې باله مګراوس داورته ثابته شوه چه ډیرسپیڅلی یومخی انسان دئ بل ئې له یوه معتمد سړي څخه دده داصلیت اوشخصیت په باره کښې داسې معلومات هم ولاس ته راوستلي :. دغه " اعدا " چه اوس ئې تاسې له فیصله سره دوفادارۍ منظره ولیدله دیوې مشهورې قبیلې مشردی چه په میلمه پالنه اوزړه ورتوب کښې

ساري نـه لـري کـه څه هـم لـه ښـهرې ښځـه ځـوان معلوميږي اما عمرئې وشـپيتوکالوته نـژدې اتـه ويشـت مـانديني لـري پـه زوروربـاندی ئـې زړه نـه سـوځی مـګر پـه کمـزورې بـاندی ډيرمهربانـه دی لـه مرګه ښځه کرتې نه بيريږي اوهررنـګه قـوی دښمن ته مخ پرتندي ورځی له هری خواسره چه پـه هروخت کښـی ملـګری شـوی دی خـدای هغـه خـوا ژر پـه فتـح اونصرت سـره سرلوړې کړې ده.

د "عقبی " ښار چه په ټوله عربستان کښی د سوق الحبيشی لـه نقطه نظره لوی اهميت لـري د عقبـی د خليج پـه وروستی ګوټ کښی واقع دی ددې ښار نيول چه د ترکانو د استحکاماتو لـه حيثه ښځه يو سخت کار و او بې تربيو عربو نشوای کولای چه د بحر او يا وچی له لاری ښځه دی پر هغه باندی يرغل وروړی نو ځکه لارنس وغوښتله چه د دښمنانو فـکرونه د وچی له خـوا ښځـه يو مخ راوګرزوی او د بحرو خواته تمرکز ورکړی پـه دې چل سـره بـه نو د "اعدا" - " ابوطی " او نورو سردارانو د نفريو پـه کومک سره نـاڅاپـه لـه دې بلـی خـوا ښځـه يرغـل پـرورړی مـګر پـه دې نظريه کښی ښيا مشاورينو د تيری نظر يې پـه ډول سره مخالفت ورسره وکـړ او هريـوه ئـې د هدايـت اخيسـتو پـه ملحـوظ سـره د عمومـی قوماندانـی پـه عنـوان متعـدد ليکونـه صـادر کـړه د ۱۹۱۷ کـال د اپريـل د مياشـتی پـه پـای کـښی لارنـس و خپلـو آمرينو تـه د بشپړو توضيحاتو ورکولو پـه غـرض سـره د مصر لورته سفر وکړ او د می د مياشتی پر لومړی تاريخ بـاندی بيرتـه

( وجهی ) ته ستون شو سمدستی ئې سم له خپل مرتب پلان سره د مې د میاشتې پر نهمه نیټه باندی د "اعدا" او نورو سترو مشرانو تر سلاو مشورې وروسته دایله جاریانو یو لوی جمعیت د عقبې خواته وکوچاوه په دې پلا کښې هم د هغه ذکر سوی سفر په خیر سره یوه ډله و ډول ته نښیدله او بله ډله د باجې آواز ته مدهوشه تللې وه " اعدا" او نور سرداران د لارنس خوږو قصو داسی جلب کړی وو چه بیخی ئې د سفر د سترړیا احساس نه شوای کولای ددغی خوښی او صمیمیت په حال کښې پسله دو ورځو ځخه و آل کرنومی ځای ته ورسیدله په دې ځای کښې یو سپین ږیری سره له زامنو اوسیدئ اویوځو دخرما محدودی ونی هم ولاړی وې . دوی دیوې ورځی په دغه ځای کښې میشت شول ددرېیمی ورځی ځاښت مهال ئې بیا سفرته دوام ورکړ دمازدیگرپه شپږوبجو باندی ئې یوځگ کوتل مخی ته راغی چه غیرله ځکیدلو ځخه په بل شی سره ځوك نشوای تراوښتلای مگردعربوزحمت کښه زامن دیوه بل په کومك سره په ډیره چټکی ترتیر شوه اوپه هغه بله خواکښی ئی له یوه جاسوسه ځخه دخیریت دمعلومات غوښتلوپه ملحوظاتوسره دیوی زرغونې ناوې ( وادی ) په مخ کښی خیمې ونجتلې .

شپه په ډیر انتظارسره تیره شوه سهارفوج " داعدا " ترقیادت لاندی وکوچیدئ . هرچاته چی به داموقتی وظیفه تربله پلادیره کیدلو پوری وردغاړی کیدله نو هغه مجبوره وو چه په هره شیله لوړه ژوره کښی څاروکړی اودلښکر د انتظام اوانضباط مراقبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وساتي په همدې ملحوظ سره به نوموړی کله یوې غونډې ته اوکله بلې غونډې ته وختئ خوسربیره پردې تلتګو شلولو باندی د لاری هیڅ درك ورمعلوم نه شو وایی ددې تردد اوتلاښ په حال کښې ئې دپاخه ثابت پرمهال باندی داورګاډی له لین سره څوسپاره ترسترګوشوه لارنس په ډیره وارخطایی سره له ده څخه پوښتنه وکړه داخلك ستاپه سترګوشناخته درځی ؟ " اعدا " دسرپه ښورلوسره " دنا " جواب ورکړ لښکریان په خپل طبعی تګ سره روان وو چه په معنویاتواو وضعیت کښې ئې کوم تغیرنه محسوسیدئ ترڅه ځکل تللو وروسته مشاهدتا هریوه ته معلومه شوه هغه سپاره ددوی دبنل محاذ نفری دی اودمستړهارن ترمشری لاندی ددی ځای دریل دپټړیو الوزولو وظیفه وردغاړی شوې ده لارنس دخپل دی نوی همکارسره په لیدلوخورا ډیره خوښی وکړه اویو ساعت ئې دخپلې نقشې له مخې څخه لاری وروښودلې بیانوهغه سره له خپلونفریو بله لاره واخیستله اود دوی قافلې په دا دوهمه ورځ مازدیګرد ریلوا یی دعمومی جنکشن له څنګه سره دشپې تیرولو له پاره واړول په داسبائې دنوموړی منطقی دریلوائی ترپټړیو الوزولو وروسته خپل مشکان له اوبوڅخه ښه ډك کړل اود ( آل هرل ) دوچی ریګنی بیدیا په سخت سفررهی شول وایی په دې لارکښې ګرمی اود بادریګ پاشلو له یوې خوا څخه اودشپو شپو بد خوابیو له بلی خوا څخه د ټولووضعیت داسی ورخراب کړی وو چه سراب ته به ئې داوبو په هیله سره ورځغستله اودهریوه سوو

کوکو فضا په سراخیستي وه ګاهی به وخدای ته په زاريواودعاشوه کله به ئې لارنس اومشران ترګريوانوتېينګ ونيول دالاپريږده پسله يوه شواروز تک څخه ئې اوره هم مخ پر خلاص شوه او اوبه ئې هم لږي شوي دلته دټولوله ژوند څخه اميدونه وشليدل اودمرګ په انتظار کښې يې سترګې څلور شوې ددي پريشاني اواضطراب په حال کښې ثابت مهال يواوښ خالي وليدل شو چه سپورئې په کوم ځای کښې دکمواکي له حيثه شيوه شوي وو لارنس ئی دارخ له ملګری څخه دنوم پوښتنه وکړه او د غائبيدو تفصيل ئې ځنې وغوښتې هغه ترلږ فکرورسته په ډيره وارخطايي سره ورته وويل نوم يې عاصم دی مګرپرياته کيدو باندی مې يې خدښکه علم شته زمونږ بادرده پرديس ته خپل پاك ايمان اوسپيڅلی ضميردې اجازه ورنکړه چه دلاری ملګری دې که څه هم غريب وی په بيوزلی سره له لوږی ياتندی څخه دکومې کوټې له څنګه سره مړشي اودی دی ددې نورو بې عاطفی ملګرو په څيرسره رډ رډورته ګوری نوځکه ئې بيله دی څخه چه له مرګه ووېريږي اويادی دخپلی لوږی اوتندی خيال وساتی سربيره ديوه اودبل په تهديد باندی داوښ مخ راوګرزاوه اوتردوه ساعته تک وروسته ئې هغه خوارځواکی انسان ديوې غونډۍ په بيخ کښې دبيهوښی په حال کښې وموندئ په خورا تکليف سره ئی په يوازی سروکجاوی ته پورته کړ اوبيرته په چټکی مخ دقافلی پرخوا رارهی شو . " اعدا " اودوه نورخلك چې په ده پسی رارهی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی وه په لارکښنی ورسره مخامخ شول که څه هم هغوی ئی په ظاهره له دی وسیله ناکه وضعیت څخه وخوښنی اظهاروکړ مګر پشلائي پوچ ورد ورته ویل اودده دا حرکت ئي یونامعقوله اوبی ځایه حرکت باله .

مطلب دادی چی پسله پنځلسو ورځوڅخه په داسی حال کښنی چه داساعت یابل ساعت به دتهول مرګ دتندی اوګرمی له لاسه یقینی وو یوه نخلستان ته ورسیدله له دې ځایه څخه بیاترلږ توقف وروسته مخ د ( بیراحضر) پرخوارهی شول چه داځای دسراهان دوادی دشمالی طرف په ۵۰ پنځوس میلی کښنی واقع وو وایی په دغه لارکښنی دیوې داړه مارانو له طرفه څخه ناڅاپه فیرونه پړی وشوه چه یوئې ددوی له ملګروڅخه مړکړ که څه هم لارنس وانړیوالانو ته دتوقف اوکوزید و امرورکړ مګرهغوئي دخپل مړی دبدل اخیستلوپه ملحوظاتوسره په خوله ونکړه او سمدستی دغونډی پرچاپیره باندی یوه الغه شوه یرغل اوړونکوئې تریوی ګړی پوری لامقاومت وکړ مګرپه آخرکښنی ئی په ډیره بیشرمی سره ماته ومیندله اوپه شاوخوا شیلوکښنی سره تیت وپرك شوه . دوی وروسته تریوه شواروز تګ ونومونړی ځاه ته ورسیدله اوپردغه ځای باندی ئی دسفرلومړی برخه بشپړه شوه .

پسله دی څخه نودعقبی دمحاصری منصوبه پسی راواخلو چه لارنس ته به دهغه ښاردفتحی په باب څه ډول ډول فکرونه په خاطرکښنی وګرزیدل او د خلکو دغولولو له پاره ئی څه

رنګارنګ پلانونه سنجول وایی ددغه فکری انقلاب په نتیجه کښې ئې دهغه ځای لوی شیخ ته " داعدا " په ذریعه سره ځوهمیانی طلاوی ورولیږلی اودهغه خاصه توجه ئې د فیصل په باره کښې وغوښتله اوپه خپله په یوه لنډ سفر خاص ددې معلومات حاصلولو له پاره چه له عقبې څخه بیا (پتما) ترسرحده پوری دښمنانوڅه استحکامات نیولی دی او دخلکو وضعیت ددوی په باره کښې څه رول دئ پټ رهی شوهیڅوك ئې په رازخبرنکړه وروسته ترستنیدوې دملګرو داصرار په اثرسره په دی موده کښې داسی توضیحات ورکړل :

" بعلبك" ته ولاړم هلته می دترکانو په ځومجلسوکښې دلباس دتغیرپه صورت سره ګډون وکړاود هغوی پردې اتفاق باندی چې مابه نیسی اوسخته سزابه راکوی پوره علم راغی پسله هغې څخه بیا دیوه سوداګر په بڼه سره دمشق ته پسې ورتیرشوم اوهلته په بیغمه زړه سره ددوښمن په کیمپوکښې وګرزیدم دخلکو نظریی می ځانته معلومی کړی اوپه بعضو پټو پلانونوئې پوره خبرشوم " یولیکونکی لیکی چه : ترراغبرګیدو وروسته چه به دی په بیغمه زړه سره " دعقبې " وفتحی ته متوجه کیدئ ناڅاپه دخارونکو له طرفه څخه اطلاع ورته راورسیدله چه ترکانو "دسرهان " په ټولو ځهانوکښې زهراچولی دی، ددی خبرپه اثرسره مجبور شو دهغو تر پاکولو پوری نقل وحرکت وځنډوئ اود دوښمنانو ددې ناوړه وضعیت په مقابل کښې په اورګاډی باندی دیوه فوری یرغل تیاری وتیسی چه په دی سره

به نو د هغو فکرونه دذکرسوو منصوبو ځخه راګرزیدلی اوبلی خواته به متمرکز شی .
دادې تاسې ته معلومه وي چه ترکان په رشتیاهم دځاهانو د مسمولو په تفنن سره مطمئن وو اویرغل ورونکی عرب ئې پرمخ تباه ګڼله نوځکه ئې محدود نفری ددې منطقی ددفاع له پاره پرېښودل اونوره قوه ئې یوې بلی خواته سوق کړه مګردې غلط فکرئې ژرمعکوسه نتیجه ورکړه اودلیدلی خوب تعبیرئې سرچپه وخوت ـ زړه ور " لارنس " دېنځوسوو عربی ځلمیانوپه مرسته سره له یوی خواځخه د ( غدیرالحج ) دستېشن دساتونکوپه ماتولو اوله بلی خوا ځخه دمهموپلو اوریلوایی دپټریوپه الوزولوسره له یوه مخه ځخه معنویات داسی ورمختل کړه چه دبند ټرلو پلان ئې هېرونشوای ورته طرح کولای بل ئی وغوښتله چه د دوی ددې حواس بایللوپه حال کښې لومړی د ( اباللسان ) پرپانه باندی چه دریلوایی دلین دملازمینو مهم مرکزوو یرغل وروړی ولی چی بیله دی ځای له نیولو ځخه ونورو خواوته تګ امکان نه درلودی اوبیاد ( Neghelshtal ) دغره کوتل چه دهغه خواته ئې " دعقبی " پوخ سړك واقع ؤ قبضه کړی ددی مهم یرغل لپاره دترکانو دبشپړواستحکاماتوله حیثه ځخه وروسته ترسلاو مشوری : نفری پردرو ډلوباندی وویشل شوه لومړی ډلی ته دتلګراف دمزو په پریکولو ودوهمی ته دشپی دناځاپه یرغل اودریمی ډلی ته دغرونو له سوریو ځخه دفیرکولو وظیفی وټاکل شوی اوپخپله لارنس ته ځارکول

اومراقبت ورپه پیڅه شوه یوه شپه چه ئې دمراقبت په ترڅ کښې ترکان له چوکیداره ځڅه نیولې بیاترمنصبداره پورې په خواږه خوب بیده ولیدل ناڅا په ئې هغه دوهم ګروپ په ملګرې سره یرغل پروروړ چه خورا ډیر نفرئې ورووژل او هر ډول مالي نقصان ئې ور و رساوه مګرپه پای کښې ئې تندی وګرمی له یوې خواڅخه اودترکانو دنوو توپکانواو نوو توپوشلیك له بلې خواڅخه ماتی ته مجبورکړه خوسیاستاً به ئې هغوته داسې وضعیت ښکاره کاوه چه اوس به دغرو له سوریو اوکندو څخه زمونږ نورنفری یرغل وباندې وروړی لارنس چه ددې اړودړو په وخت کښې تندی ډیرپه تکلیف کړئ اودپښو دسوده کیدو له حیثه څخه ئې یوګام هم نشوای اخیستلای نوله مجبوریت څخه ئې ویوی لویی کرکنډی ته ډډه واچوله " اعدا " ګومان وکړه چه له بی غیرتی څخه ئې دلته ځان خپ کړئ دئ په خورا قهرسره ئې دطعنې په ډول ورته وویل : " وا وا ـ وا وا ـ عجیبې مسخرې دی را ایستلي دی مونږ جنګ ته پاره وی او تا کرار سیوری ته ځنګ اچولئ دئ که څه هم دده په مزاج باندې دی وینا بدتاثیروکړ مګرپه ښکاره ئې په ویره خوله سره صرف دومره ورته وویل . دائې استراحت نه امرکوه څه وکړم ؟ " اعدا " جواب ورکړتا خو سره له ځوانی څه ونکړه اوس په ماپښی شه چه په دغه سپینه ږیره سره دتورې په شرپ مځکه یا آسمان لړزومه کنه " ؟ دده داوینا دهغه احساسات پرجوش راوستل او ( داعدا ) ترقیادت لاندې ئې په خو راتهور سره دترکانو د پورته

خواپر نفریو باندي يرغل وروړی اوبيخي يې وکيمپوته ورداخل شول نورو عربو هم ددوی په دي يرغل سره له هری خوا څخه په چور وچپاوپيل وکړاوس نو ( عقبی ) ته دلاری دخلاصيدو اميد يقيني شواوپه دي غيبي فتح سره دټولو زړونه داسی خوشحاله شوه چه دورځو ورځولوړی وتندی يئ هيری کړي اوسره له دغوستونزو او زحمتو ديوي بلی نيږدي تاني دنيولو په فکرکښی شوه چه هغه هم خوراژر دلارنس په پاخه تدبير او دزړورو عربو د موټو په زور سره په يوه يرغل ونيول شوه اوراساًيی داتم دوادی لاربسي واخيستله په دي منطقه کښی به خلکو دالجي په هيله سره ګډون ورسره کاوه اوجمعيت ئي ورځ په ورځ مخ پرزياتوب واوترکانوته چه له هری خوا څخه د ناکاميو سره مخ شو اوسره له نوی وسلې ئي هيڅ کارمخ ته نه تئ نوځکه ئي په (( عقبه )) کښی مقاومت ونه کړای شو او د معنوياتو بايللو په حال کښی ئي دا ډول سخته ماته وميندله چه هيڅ تصورئي نه کيږی . وايی دلته نو سربيره پرسترړ يا باندی د فاتحو ميړو وضعيت لوړی اوتندی داسی ورخراب کړئ وُ چه دنوروراندی تګ اميدهيڅ نه ورته کيدئ د دوډئ په عوض کښی به داوښانواومی غوښی هم په کافی اندازه سره نه ور رسيدلي خوسره له دي به ئي په زړوکښی د (( بعلبك )) د نبولو فکرونه غونځيد له - فعال لارنس چه د دوی ددغه فکر ښه ګرمول غوښته اوپه دي رواداره نه وُ چه د رس. ياوسلي دکمبود له حيثه دي دا سلسله وشليږی نوځکه ئي ډيرژر سره له

ناروغی اوتکلیفو دیوه فوری امداد غوښتلو په غرض سره دمصروعمومي قوماندانی ته د سفرکولو عزم وکړ چه ضمنا به خپل دکاروبار راپور هم دهغو تر نظر تیر کړی او داینده خط مشی هدایت به ځنی واخلی وایی په دغه سفرکښی ئي اوه کسئه بلد اوښ والا هم له ځانه سره ملګری کړی ووچه د (( سینا )) په سووځونکی ریګ کښی به ده کله دهغوی داوښ مهارنیولی ؤ اوکله به هغودده داوښ مهارنیولی و ځوددغه یوعالم تکلیفواوزحمتوترزغملو وروسته سویزته چه له (( عقبی )) څخه ( ۱۵۰ ) میله لیری دی نیژدي شول .

لارنس وایی – په دی ځای کښی ماله موظفو مامورینو څخه دبیری دتګ معلومات د تلیفون په ذریعه سره وغوښتئ هغو جواب راکړ :

(( ترسبا پوری انتظار وکاږه )) مجبور شوم شپه می پردي غاړه باندی له ملګروسره تیره کړه په داسبادیوي ګرندی بیړی په ذریعه سره په دوو ساعتو کښی هغی غاړی ته پوری ایستل شوم هلته می دبعضو اشنایانو له طرفه څخه تو د هرکلی وشو په دابله ورځ سهار د اورګاډی په ذریعه سره (( قاهري )) ته رهی شوم داسمعیلیي پرلوی جنکشن باندی جنرل ( ویمیز ) راسره مخامخ شونوموړی په لومړی پلاکښی ونه پیژندلم مګر پسئله پیژندګلوی څخه ئي ښه خوږ مجلس راسره وکړاوراته وئي ویله پرون می دغلی اووسلی یوډك اوګوټ عقبی ته ولیږه دده دي زیری زماتوله اضطرابونه رفع کړه اوپه خورا خاطر جمعی سره

(( قاهري )) ته ورسیدلم هلته اکثرو شناخته کسانو په دغه عربی جامه کښی نه پیژندلم اود یوه بدوی عرب ګومان ئي راباندی کاوه یوه ورځ د جنرل ( کلیتمن ) واطاق ته بي اجازی داخل شوم هغه زماپه دی بـي اجازی ننوتلوسبره ډیرمتاثرشواودنه پیژندوله حیثه څخه ئي تندی ترش کړپه خوراقهرسره ئي راته وویل :
(( زه خپـل قیمتـی وخـت لـه یـوه بـدوی عربـه سـره نشـم ضایع کـولای )) مـاپه ډیروضاحت سره په انګریـزی ژبـه جـواب ورکړآیازماله پاره لاهم وخت نه لرئ ؟ ددي وینا په اوریدلو سره ئي په ځیرځیر راتـه وکتـل دشناخته شـك ئـي راورسـیدئ نولـه چوکی څخه چست راوغـور ځیـدئ او پـه بغـل کـښی ئـي ټینـګ ونیولم په خـورا انکسارسره ئـي ډیره معـافی وغوښتله د لارنـس دی لیاقت اوکفایت ته چه په دومره لنډه موده کـښی پـه یـوازی سرســــره دومـــــره مـــــهم کارونـــــه انجـــــام کـــــړه دمصرګردولوړومنصبدارانوګوتي په غاښ کـښی ونیولـی - تـرده دمخـه یوبـل جرنیـل چـه ( اسـن بـای ) نومیـدی هـم دغـه ځای تـه ددغه خدمت له پاره لیږل شوی ومګر هغه پرتـه لـه شیانو ټولولـو او یا فوجي انتظام څخه کوم بل اقدام ونه کړ.
یومنصبدار وایي ترکانو زموږ د ګران (( لارنس)) د نیولو لـه پـاره یوکـافی مبلـغ د جـایزي پـه تـوګه سـره تخصیـص کـړي و اوجاسوسانوبه ئي په هر ځای کښی په ډیر وقت سره مراقبـت کاوه مـګر پاخـه تدبـیر او دوظیفـی رشتین تـوب پـرده بـاندی داسی او سپتیزه کلاراخر خولي وه چـه د هغـو هیـڅ لارنـه ورتـه

کیدله. د ډائنامنټ دیوي نوی طریقي د ازمویني په سلسله کښي لارنس د ۱۹۱۷ عیسوی کال د ستمبر په میاشت کښي د ( د هاوامداورا ) د ریلوايي په الوزولو کښي خپل بشپړ لیاقت ثابت کړ په دغه ځای کښي ئې د یوه بم په ښخولو سره نه یوازی د اورګاړی انجن په هوا کړ بلکه هومره جانی او مالی تاوان ئې ترکانو ته ورواړاوه چه حد او اندازه نه لری د اکتوبر په میاشت کښي ئې دیوی بلی اورګاړی په الوزولو سره. دیرش ترکان مړه او اویا ژوبل کړه

د پورتنیو تاوانو په اړولو او یا د شمالی و جنوبي سیمو د لویو لویو سټیشنو د پټریو په الوزولو سره چه د ښمن ته دا ثابته شوه چه عربو په هر ځای کښي د مخالف بیرغ راته پورته کړی دی نو ځکه ئې په خورا بیړه سره ټولو محاذوته خورا ډیر مجهز عسکر واستوله او د اورګاډو د محافظت انتظام ئې هم په ممکنه ذریعه سره وکړ وایی تردې اندازی پوری له احتیاط څخه کار اخیسته کیدئ چه بیله ساتونکو له جنډی ریولو څخه به ریل له خپله ځایه څخه حرکت نه کاوه خوسربیره پر هومره انضباط او انتظام باندی به لارنس له یوه داسی ځایه څخه نقصان ورورساوه چه ددوی به هیڅ فکرور ته نه وه بل به په دغو غلطو آوازو چه نن به پنځه سوه وسله لرونکی عرب پر فلانکی ځای باندی یرغل وزوړی او یا فلانکی سټیشن تر پټریو لاندی بمان ښخ شوی دی ساده ترکان سره مشوش او وارخطا کیدله.

د اکتوبر د میاشتې په آخر کښې که زموږ د منځنی ختیځ فاتح دیر موك دوادې د پله په الوزولو کښې چې د دمشق دزیلوایی لین یې له خیفاسره وصلاوه او دتل الشباب (telell-u-shebad) نومی ځایه سره واقع وه بریالی شو مګر سم له خپله پلان سره خوئې پسله شپو، شپو بدخوابیو څخه د فوجیانو د اورګاډو دوه انجنونه په هوا کړه - دی وایی په دې پلاسفر کې له مرګه سره مخامخ شوم خو پاك خدای ځنی بچ کړم د سکنجو او پانو د تکلیف سهلو ته به می ګوته په غابن کښې ونیسی له زلخوړی څخه به می یوې ګولې ډوډی ته سترګی لویدلې او له شپو. شپو بدخوابیو څخه مې دماغي توازن خراب شو مګر په دغه حال کښې به خدای ته پر سجده پروت وم او دغه شکر به مې ادا کاوه چه و وجدان. وطن .او خپل مقدس دین ته دې خجل نه کړم

وروسته تر دغه سفر څوموده سخت ناورغه و بیا د دانیال درې ته د څو تنو په مشری ولیږل شو هلته ئې په ملی جامه کښې توله حربی ځایونه تربښو وکښل وایی یوه ورځ له ملګری سره د هغه ځای په کومه کوڅه کښې تیریدې چه ناڅاپه د شاله خوا څخه دودریږئ ږغ پروشو ده غوښتله چه ځان د کومې خواته ګوښه کړې مګر ملګری ئې د اشتباه د رفع په عوض سره مانع شو ترکی سپاهیانو ته چه د دوی له هیئت څخه په زړو کښې پخوالا څه شك پیدا شوی وه څکه ئې تودې تودې پوښتنې ځنې شروع کړې خو له مجملو جوابو څخه ئې کومه نتیجه لاس ته ورنغله

دلته ئی دزړو اشتباوی یقینی شوی نوئې د حوالدار په امر سره په پوری وهلو ترلوړه مقامه پوری بوتئ هغو ته هم دده منطقی دلایلو په زړو کښی څه شك پیدا کړ او د لاس ته راوستلو اطلاعاتو په اسناد سره ئې جاسوس وباله یو منصبدار چه په خورا قهر سره ئې برګ، برګ ورته کتل و خپل نوکری واك عسکر ته ئې داسی امر وکړ:- " ددی فاسق ماغزه په سر کښی ور اوبه کړه - دا ملعون ماوپیژاندئ چه د انګلیسانو په ټونګ سره ئې موږ ته په هر ځای کښی د مخالفت اورونه بل کړی دی د داسی کسانو په پستو خبرو سره باید ونه غولیږو اونه ئې پراسکیرلی حال باندی زړه وسوځو دوی زموږ ستاسی په زړوښکلی ځلمیان په خورا بیرحمی سره مړه او د هغو د ناویانو ماندینو او ګلالیو زامنو پر سروباندی یې د غم خاوری باد کړې " دې مهیجو ویناوُ د هغه عسکر احساسات داسی په ښورَ راوستل چه کله به زموږ د رشتینی خدمتګار (لارنس) پِه نس کښی ورغورځید او کله به ئی په چپلاخویا لښتو سره پر مخ مخ واهه په دې سره چه به ئې هم زړه سوړ نه شو بیا به ئې له پانی او کندې څخه کار اخیستی وروسته ترښه ژوبل کیدو او تکلیفو پر راوستلو ئې د بیهوښۍ په حال کښی یوې منحوسی کوټې ته ارتاوکړ او دروازه ئې ټینګه پسی قلف کړه شپه په دغه بیهوښۍ کښی پرتیره شوه په دا سهار ئې بیا په پانو او کندو کښی پښی ورواچولې او زیات تکلیفونه ئې پرراوستله مطلب دادئ چه تر درو ورځو پوری ئې دغه شدادی وهلو دوام درلوده په داځلرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه ئې له ځانه سره د تیښتې تصمیم ونیوی او تر یوه لوړ
کلکین ئې په ډیر زحمت سره ځان لاندې راواچاوه پر کلکه
مځکه باندې ئې ژوبل بدن په داسې شدت سره وموښت چه د
راسته لاس هډوکي ئې سره ریزمریز شوه او تریوه ساعت پورې
هلته بیهوښه پروت و بیا ئې په ډیر تکلیف سره په څخیدلو ځان
له ودانیو څخه لیرې دیوې بیدیا ته ورساوه شپه ئې دیوې کر
کنډې بیخ ته د یو عالم بیرې په حال کښې تیره کړه سهار په شنه
خړه د کیمپ لورته رهي شو

اې د هیواد د خدمت دعوه کوونکو! په تشولاپو او یا پوچو
ادعاو سره څوك د وطن د مور حق نشي ادا کولاې - دا حق د
لاړنس غوندې میړه په تنها کوتلو او ژوبل بدن سره ترسره کیږي د
میړو تېرونه غواړي چه ددار رسۍ اویادتوپ ګولیولره سپرشي
که څه هم د ناروغې عارضې او یاد باران او واورې اوریدلو درې
میاشتې زموږ ددې میړه په پلانو کښې سکته ګې راوستله مګر
سر بیره پردې باندې به ئې په استشاره سره د ریلوایي د پټریو
الوزولو او یا غلطو پروپاګنډو خپرولو کار جاري ووایي ورسته
تر روغتیا به همیشه له مرتبه پلان سره سم دکوم نړیدلې پله له
اړخه او یاد ریلوایي له الوزولو پټریو سره پټ و کله چه به د هغو
د تعمیر کار د موظفې عملې له طرفه څخه بشپړ شو او دتنګ
وراتنګ اطمینان به ئې مرجع ته ورکړه شو په دې وخت کې به یې
خپ چپ یرغل پر راوئ یا بد یې وروسول او یابه ئې پمه بم
وروالوزول په عین حال کښې به ئې مصر او عربستان ته کله د

بحر لـه لاری او کلـه د وچـی لـه لاری هـم سـفر کـاوه او د خپلـو پلانونو اقصات به ئې په هره ممکنه ذریعه سره اصلاح کوله د بخت او اتفاق اطمینان ته ئې کرټ کارونه نه سپارل

په ۱۹۱۸ عیسوی سنه کښې و (تفیلح) tafileh تـه دتـګ پـه لار کښې لومړی و (ګوریریا) او بیا تـر دروهفتـو مسلسل کـوچ وبـار وروسته د نوموړی سیمی جنوبی ګوښی تـه ورسیدئ دلتـه ئـې د بعضو ټینګو اندایولانو په مرسته سره د (ترف) turf نومی ځای د ریلوایی مشهوره ستیشـن تـه سخت نقصان ورساوه لیکـن پـر تفیلح بـاندی ئې د موسم دنه موافقت لـه سببه د یرغـل کولـو موقـع پیدانکړه بیرتـه دی او ملګری خپلو خیموتـه چـه دغـرو پـه لوړو سطحو کښې ئې نجتـی وې ستون شـوه او تریـوی اوږدې مودې پوری د هوا د مساعدت په انتظار سره هلته میشت شـول یوه شپه چه آسمان صاف او د ثورلسم سپوږمی د شاوخوا تپولـه غرونه او دښتونه روښانـه کـړی وه نـاڅاپـه د یـوې غونـډې لـه شا څخه د توپکانو ډزی واروېدل شوې اود عربـو یـوه ډله دماتی پـه حال کښې مخ ددوی پر خوا راروانه وه - له وضعیته څخـه داسی معلومیدله چه یولوی جمعیت پسی را اخیستی دی لارنس چه له لوړی څخه ددې حال مشاهده کوله نابېره ئې ګولی لـه پښو سره وچاودله خدای و چه کوم نقصان ورونه رسیدئ او ژر دیوې ګټې شاته خپ شو په دې وخت کښې هغه یرغل راوړونکی سپاره پـر دوډولو باندی تقسیم سوه چه یوې به ښی لورتـه او بلـی بـه کیـڼ لورته حرکت کاوه هدف ئې فقط د کیمپ خیمی نیولـی وی دلتـه

نو دده غړي وتښتيدل مجبور شو سم له حربي سياست سره ئې د ملګرو يوې ټولۍ ته دښې خوا بلې ته ئې د کيڼې خوا او دريمې ته ئې پر منځنۍ محاذ باندې د فيرکولو اشاره وکړه مګر سربيره پردې باندې ئې تلفات يوسلوشلو کسو ته ورسيدل

که د هواد انقلاب اړودوړنه واى پيښ شوى نو د ټولو تپ کيدل يقيني و مطلب ذادئ چه ددې طوفاني موسم دوام له يوې خو څخه او د ملګرو بې ثباتئ ئې له بلې خوا څخه په مقاومت کښې څه تزلزل پيښ کړ نو ځکه ( ابا - ال - لسان ) ته د بعضو مشرانو په سلا سره کوچ شو او هلته ئې د موسم تر ښه کيدلو پورې خورا ډير عرب د ترکانو مخالفت ته وپارول او ضمناً ئې نور نوى نوى پلانونه وتړل د پسرلي د موسم په پاى کښې چه د هوا و ضعيت لږ څه سم شو او د هغو بې همتو فوجيانو له زړو څخه د ليدلو تکليفو خاطرې محوه شوې بيائې پر (تفيلح) باندې يرغل وروړولو عزم وکړ په لاړ کښې کرنيل (جوانس) د مصارفاتو له پاره پنځوس زره پونډه ورتسليم کړه ددې کافي مبلغ له خوښې څخه ئې ددې پلاد سفر ټوله تکليفونه او د ملګرونا څوانې هيرې کړې له شوبك څخه د شاتورى اوښ پر شا باندې ديوه اوښ والا په ملګرى سره مخ د ( تفيلح ) پر خوارهې شو په لاړ کښې به ئې په هر ځاى کښې د ترکانو له ګماشتګانو او يابد و عربو څخه تکليفونه ليدله له ډيرى سپرتيا څخه ئې کوناتې او ورنونه داسې زخمي شوي وو. چه بيخي به زهوب ځني بهيدئ کله به د غره د داسې څکى ته پورته شو چه پنځه زره فوټه به ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګوالی درلود او کله به و یوی داسی کندی ته شیوه شو چه بیخی به ئې د ختلو امکان نه وه اوښ د سوده توب له سببه نه تلی او اوښ والا هم د غوراز - راز زحمتو سره وارخطاکړنه ئې غوښته چه اضافه دی یو قدم ورسره واخلی مګر دده راز یو جګیوبه بیا تر یوه حده پوری بوتئ درشیدیی د کلی په یوه میلی کښی خو هغه اوښ والا برملا ښکنځل ورته کول اوښه ئې زړه غوښته چه حملی ورسره ووهی مګر د لارنس ټټر ئې په ډیره بی پروایی سره تحمل کاوه کله به ئې لکه وړوکی په یوه شی او کله به ئې په بل شی خوشحاله کړ ځو ددغه تکلیف او زحمتو په حال کښی یوه کوچنوټی کلی ته راورسیدل - د کلیوالو ښه سلوك او میلمه پالنی ددوی ستړ وتلو او ژوبل بدن ته څه دمه ورکړه له دې ځایه ئې د جنرل (الن بای ) دلیك په اثر سره د (تفیلح) لار پریښوله او د مصر و فلسطین د تګ په نیت سره مخ د"عقبې" پر خوارهی شو هلته د ملاقات په ترڅ کښی نوموړی جرنیل د جرمنیانو او ترکانو د دوستی په تړون سره ډیر متاثر ښکاریدئ.

او پسله دې څخه ئې داتحاد یونو کامیابی بیخی محاله ګڼله مګر لارنس دده دا ټولی ناامیدۍ په امید سره تبدیلی کړی او مجبوری ئې کړ چه "عقبی" ته به خپلی مرستی په هره ممکنه ذریعه سره دوچنده کوی

د بلی پلا مشاهدې په ترڅ کښی له " عقبی " څخه د سوو کالونو د بې حسۍ کوچ ولیدل شو د ریګو پر کوټو باندی چه د عربو له وادی څخه بیاد بحر تر ساحله پوری اوږدې وی دتورو کړ.دیو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عوض کښی ښکلی . ښکلی کیمپونه ولویدیز پلوته د الوتکو له
پـاره یـو وړوکـی میـدان هـم جـوړ شـوی و پـه بحـر کـښی
دوړوکښتیوتک و راتګ او د مالو پورته کولو کښته کولو جم و
جوش و او هر لیدونکی تـه یې ددې ځای د روښانـه ایندې امید
پیدا کاوه د انګریزانو سلو تنو سپاهیانو د جبه خانی او نـورو
اسبابو ساتنه پخپلو رسمی جامو کښی کولـه د توپکـانو او نـورو
وسلو د ترمیمولو کار په خورا ښېړه جاري و ځینو عربو بـه نوی
توپکان اخیستل او ځینو بـه هغـه خپل زاړه خوښول په ګوویریا
کښی یوه نوې عسکري چوڼۍ ودانـه شوی وه د "عقبی" او"اتم
دوادی سړك فراخ شوی او پوخ شوی و د ( ګووریی ) چوڼۍ لاپر
هغـه پخوانـی حـال بـاندی وه د ښار د اوسیـدونکو و ضعیـت څه
تغیر کړی و امـا د لیرو ځایـو خلکـو لا هغـه زوړ مسـلك چـلاوه
نامانوسه شیانٔ به ئې نه خوښول د نیژدو شیانو اصلیت به ئې په
مشاهده او دلیرو دابه ئې په ښبه کولو سره معلوما وه
یو لیکونکی وایی په دغو ځایـو کښی هرانګریز مجبور و چه د
ځان د ساتنی په غرض سره څلویښت کسـه زړور وسله وال عـرب
نوکران کړي ولی چه پروسله باندی مین خلګ غیر لـه دی خلګو
څخه مانه ولیدل او نه به ئې ووینم د هریوه په اوږو کښی ئې دوه
توپکان ښره له لسو دولسو قطارو کارطوسو ضرور لیدل کیده
د لارنس ترتګ وروسته کـه څه هـم پـه دې ځای کـښی عمرانـی
چاری مخ تـه ولاړې امـا د ویلو وړ جنګی اقدامـات ونـه شـوه -
" جنرل الن بـای " لـه یوې خوا څخه دانګریزانو دهـر محـاذ پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ کښې د نقشونه تطبیق. اوله بلې خوا څخه د اورپا دتاوده جنګ مبتلو دې ته اړیوست چه تر درو میاشتو پورې اقدامات وځنډوي او خپل نفرې د صلاحیت لرونکې مقام له حکمه سره سم د مصر او فلسطین له نفرو سره یو ځای غربې محاذ ته ولیږي. وایې د اتحادیانو قوت ځکه چه په دې وخت کښې یوازې د عربو په معمولې انقلاب پورې منحصر و نو د حربې سیاست له مخې په شرق کښې د ترکانو ماتې د غربې محاذ ددښمنانو معنویاتو ته تزلزل پیښه ولاې شواې او زمونږ د نفریو اقداماتوته فرانسه کښې کوم مانع نه پیداکیدۍ

وایې لارنس ددغه سیاست په پیروې سره د خپلو پلانو تطبیق ته ښه ترا متوجه شو او د مختلفو محاذو اداره ئې پر خپله غاړه واخیستله یوه پښه به ئې تر عربستان پورې وه او بله به ئې تر فلسطین او مصر پورې ، مګر په عین حال کښې ئې "دمشق" د ټولو جنګې کار روائیو کلې ګڼله او هر وخت به ئې دا اظهار کاوه چه ددې ښار فتح د ټوله شرق فتحه ده -

یوه منصدار راته وویل چه جنرل ( الن بای ) د بشپړ اعتماد له مخې ټوله مهم کارونه لارنس ته سپارلې وه - او د ده بې سلا ئې یو جز ئې اقدام هم نه کاوه د ستمبر د میاشتې په لومړنیو ورځو کښې نوموړې جرنیل د هغه په مشوره خپلو فوجیانو ته سم له نقشې سره د حفظ ماتقدم له پاره داسې هدایت ورکړ - (( څه نفرې دې تر دوهم امره پورې دونو شاته پټ شې و جریلوته نیژدې د حجاز دریلوایې دلین دساتونکو د تشویش او وار خطا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یی له پاره دیوی نوی چوني په ودانولو کښې معنویاتو باندی لویه اغیزه کوی دا تدابیر صرف ددې له پاره دی بالفرض که د دښمن الوتکې په کوم وخت کښې زمونږ و خواته راوالوزی نو د نوموړی چوني او سیدونکي به داور په دود اوپه ونو کښې پټ شوی نفری به د توپکو په پرله پسی ډزو سره فضا تاریکه او مغبره کوی دا چل که څه هم په حربی چلو کښ‌ی یو زوړ او متروك شوی چل و مګر په دی وچه بیدیا کښې ئې د بی تدبیرو ترکانو په مقابل کښې حتماً نتیجه ورکوله لارنس چه د ضروری کارو داجرا په سلسله کښې کومی نامعلومی خوانه تی نو ئې کوم میجر ته د شریف د فوج اداره په موقتی صورت سره وسپارله او حتماً ئې د ځولینود د پټریو الوزولو هدایت هم ورکړ دغه میجر سم له هغه هدایته سره یوې خواته په دری ورځنی سفر رهی شو مګر هلته د عربو مشرانو دې جواب چه موږ د بدوانو بی مرستی ستاسی مرامونه مخ ته نشوبیولای ډیر مشوش کړ مجبور شو چه په هو ممکنه ذریعه بدوان له ځانه سره ملګری کړی ګوندی په دې چل سره ئې فیصل او آمرینو ته فعالیت معلوم شوی او له آینده عتاب او خجالت څخه ئې وژغورل شی "نوری" نومی بدو غوښتل چه دده له دې سرا سیمه حالت څخه استفاده وکړی نو ئې د خپل قوم د حاضرولو پیش نهاد دسلو اوښانو د ورکولو په شرط سره وکړ میجر چه ئې په چل د مخه لاپوه شوی و ځکه ئې داوښانو او کجاو دنه موجودیت په بهانه سره تر ځان تیر کړ - انګلیسان او عرب په سیاست

کبنی د زاړه و ماشوم نسبت سره لری نو آیاد استاسی وزړه ته لویږی چه د سلو کالو تجربه کار سړی دی د پنځو ورځو ماشوم خطاباسی - او یادی دپیسو په مقابل کبنی کوم مشکل کار سرته ونه رسیږی مطلب دادی چه څورلس ورځی د کوچیدو په تصمیم کبنی ځنډ راغی په پنځلسمه ورځ د حملې تول ضروریات مکمل شوه او سبا ته به د مقصد لورته کوچ وبار کیدی چه یوواری د ځینو مفسدینو په عزم کبنی سستی راغله او د خورا ډیرو پیسو غوښتلو بهانه ئې رابرسیره کړه میجر مجبور شو د هر یوه په خوله کبنی ئې څه زهر وروا چوله اوله دوی سره ئې پردې فیصله وکړه چه بله پلا به داسی بیځایه غوښتنی نه کوی مګر بی ترپې اووږي خلګ کله د عهدو پیمان پاس ساتی یاله خپلو وینا او څخه شرمیږی په داسبا بیا هر یوه خان پریوه اړخ باندی واچاوه او دمشرانو په ذریعه سره ئې خواهش وکړ چه انګریزان دی زموږ د عزت نفس پاس وساتی او داسی نفیس لباسونه دی را ته تهیه کړی چه تر هغه نفیس نه وی - دا پینش نهاد ئې هم ومنل شو او په دا بله ورځ ددوی په ذریعه سره یوه داسی سپکه حمله وشوه چه هیڅ نتیجه ئې ورنکړه له دی لیکنی څخه به ممکن تاسی ته دا معلومه شوی وی چه "لارنس" ددی بی سروبنکره قوم د څه ناشودو ته تیر سپر کړئ او د تکلیف شپی وورځی ئی ورسره تیرولې سر بیره پردومره زحمتو باندی په کوم وخت کبنی د سست عنصرو انسانانو په څیر سره د ناامیدی اظهار او یا نوره شکوه ځنی ونه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارنس د سرکاری اوښ والاو په ملګری سره بیرته عربستان ته ستون شو په لار کښې به یوه اوښ والاو بل اوښ والا ته غوږ نیږدی کړیه پس پسی به ئې سره وویل هغه لارنس نومی انګریز دغه دی چه ترکانوئې پرسر باندی دلسوزرو پوندو جایزه ایښې ده چاوچابه بیا په ډیر حیرت سره رډ رډ ورته کتل وایی د غیاب په ورځو کښې د ذکر سوی خرابی په وضعیت سره ډیر متاثرو نو ځکه ئې خپل معاونان فوراً و (ابا - ال - لسان) ته وروبلله او په دې موضوع باندی ئې څوورځې مسلسله مشوره ورسره وکړه دا هغه ورځې وی چه حسین میر جعفر پاشا په جنګ کښې ګیر کړی او دزامنو او پلار په مابین کښې پردی شخړه باندی مخالفت پیدا شوی ؤ او په کاغذیا تلیفون کښې به ئې یو د بل ته سپکی و نالایقی ویلې دې اقدام ته له هره حیثه ښخه موږ یو معقول اقدام نشوویلای ولی چه ټولو فوجیانو د یوې مهمی حملې کولو له پاره صفونه ترلی او د مشرانو امر ته منتظره وه دا هغه حمله وه چه لارنس ډیر ورته خوش بینه و اما د ذکر سوی واقعی د پیښندو په اثر سره پوره شپږدیرش ساعته ټال شوه وایی ددې یرغل د کوچ و بار مخی ته په اول کښې خورا ډیر مشکلات واقع شوه مګر په پای کښې ئې انجام په ډیره اسانی سره په لنډ صورت وشو مستیر بورن لیکی چه په دی پلا کښې به مصریانو - عربو ، او ګورکهو ته سم ددوی له غوښتنی سره خواره پخیدل او ویشل کیږی یعنی په هیڅ وخت کښې د شکایت کولو موقع په لاس نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورتله میجرنیګ خوار د حمل و نقل د انتظام په لار کښې له زښتو ډیرو مشکلاتو سره مخامخ و ولې چه له اسبابو څخه ډکی ګاډی لوړی ته د انجنو په زور سره نه شوای ختلای او د خلکو وپوری وهلو ته ئې ضرورت درلودئ په دی پلا سفر کښې لومړی (حفر) نومی ځای ته وکوچیدل چه له (ابا - ال - لسان) څخه ئې شپیته میله واټن درلودئ دلته د خلکو د غونډیدلو او نورو ترتیباتو نیولو له پاره لږ څه ټال شوه بیائې نو د (بیرارزق) وخواته چه یو سلو شپیته میله له دې ځایه څخه واټن لری مخه وکړه دا منطقه په نقشه کښې د نخلستان په شکل سره ښودل شوې وه مګر په حقیقت کښې یووچ ډبرین ډاګ و د چینې په اوبو ئې نه د انسانانو او نه د حیوانانو پوره ګذاره کیدله دلته بیا د میجرنیګ فعالیت او زحمت کښې دیادونې وړده چه د اوښانو ناپوه سپاره ئې د بدرګې په صورت سره وټاکلو ځایو ته رسول ولې چه د بدرګه والو وجود د جګړې دفن له نقطه نظره څخه زښت ډیر اهمیت لری او ددوی په نه وجود سره لښکر مخ ته نشی تلای همدغه سبب و چه ددغو نفریو په غفلت سره زموږ منظم فوج له ناکامی سره مخامخ شبو همدغه (ارزق) نومی ځای چه په دی پلا حمله کښې ئې په موقتی صورت سره د مرکز حیثیت پیدا کړی و له - انګریزی - هندی - مصری - عربی او فرانسوی لښکرو څخه ډک شو - لیری ویشتونکو توپو - جنګی موټرانو - د لرګو ګاډیو - په سوو اوښانو او دووالوتکو هم د استعماریت خوښوونکو ترکانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابل کښي صفونه پکښي وتړل " شریف " د وسله والو ځلمیانو (۴۵۰) ډلی د مخه لاورته رالیږلی وې لارنس اوَ نورو ملګرو ئې ددی وروستی جنګ د ترتیباتو په لار کښی له زښت ډیر فعالیت څخه کاراخیستی او هری خواته به ئې سره ځغستل کله به ئې له جاسوسانو څخه پټ حالونه نیول او کله به ئې پخپله کشفیات سره کول یعنی د هغو د الوتکو - نفریو - او اوښانو حال ئې دم په دم درلودئ په داسی حال کښی چه د دښمن د مکملی آمادګی خبرونه له هری خوا څخه راورسیدل نو د کرنیل (جوانس) او میجر (فیرلی) په خواهش سره د مقدماتی ترتیباتو له پاره څو ورځی مسلسل کنفرانسونه ترتیب شوه چه په هغه کښی لارنس د خپلی منصوبې ترتوضیحاتو وروسته د جنګ په وروستی خطره سره ګرده حاضرین خبر کړل او دا ئې هم وویل چه تر دې پلا ناکامی موږ تولو ته مرګ ښه دی "مرفی" او "جویر" نومی طیارو واتان اظهار کوی چه د دسمبر د میاشتی پر لسمه نیټه باندی زموږ الوتکی په امتحانی صورت سره په هوا شوې جرمنیانو هم مقابلتا خپلی الوتکی والوزولې په فضا کښی یوسپک جنګ ومښتی چه په نتیجه کښی ئې زموږ یوې الوتکی ته سخت نقصان ورساوه مګر د پاك خدای په فضل سره مځکی ته سالمه را کښته شوه

تر دغی سپکی هوایی خطری وروسته لارنس سم له پروګرامه سره دمصریانو . اوګورکهو نفری په موټرانو کښی د ریلوای د پټریو لوزولو په غرض مخ د درې پرخوا جده وعمان ته نیژدی

واقع ده ولیږل اما متاسفانه د ترکانو تنخواه خورو عربو د یرغل کولو موقع ورنه کړه مګر په عوض کښې ئې د لړګو د ګاډیو سپرونه یوازې دریلواې پټړۍ بلکه ګرده پلونه داسې ورخراب کړه چه هیڅ د جوړیدو امکان ئې نه درلودی په عین حال کښې الوتکو هم د دښمن پر مخاذو باندې درانه بمونه وغورځول او د اوښانو سپرو د دمشق د تلګراف او تیلفون مزی ټول و شلول او څو ځایو ته ئې سخت نقصانونه ورسول د (نایپ) د لین پټړی الوزونکو ته د ژر یرغل امروشود (مزریب) د محاذ نفریو هم پخپل کار پیل وکړ د ښمنان چه د دې مسلسل فعالیت په اثر سره وار خطا شوه نو ځکه به ئې په هر ځای کښې خپله قوه دوچنده او درې چنده کوله لارنس چه د لویدیز ریګستان په علاقه کښې په سوقیاتو یوخت و ناڅاپه ئې یوه ګولۍ له پښو سره وچاودله چه د هغې په چرو سره سخت زخمي شو مګر له فعالیت څخه ئې لاس وانخستئ او په نورو ملګرو کښې به ئې هم د میهجو خطابو له لارې څخه د فعالیت حس پیداکاوه کپتان پیك او د شاهي اوښانو سپرو هم په جنګ کښې خپله سپارل سوې وظیفه په ښه صورت انجام کړه او د خپل تعرض په پنځه میلې کښې ئې - دریلوایې پټریو- دتلګراف مزو او لویو لویو پلوته سخت نقصانونه ورسول د بیرته راستونیدو په وخت کښې لارنس سره له نفریو ورسره یو ځای شو او د دښمن د الوتکو د ویشتلو زیرې ئې پروکړ

میجربارټر وایي – په لومړۍ ځل کښې چه له د غو الوتکو څخه یوه الوتکه سخته نقصانجنه شوه نو نورو ملګرو الوتکو ئې زمږ پر موټرانو باندې بیدریغه بمونه واورول دې درنې بمبارۍ لارنس ته دیوی بلې الوتکې د اضافه توب فکر پیدا کړ نوئې یو – احتیاطي پیلوټ سره له څوکسو د (ارزق) لورته ولیږه اما په لار کښې د ترکانو د مشین ګنو ډزو هغو ته دوړانـدې تـګ موقع ترمرکزه پورې ورنه کړه نو ځکه ده د مجبوریت لـه مخې لـه بلې لارې څخه ځان د مقصد ځای ته ورساوه هلتـه ئې تـر هـر څه د مخه موټرانو ته د مجاذ پرلور د حرکت امر ورکړ او پخپله دیوه وران سوې پله د بیرته ورانولو په هیلۀ سره په یوه پټ ځای ننوتې د اپل د میجر شامپای د نفریو په ذریعـه سـره د مخـه الـوزول شوې و مګر په دې پلا کښې د پاخه فکر څښتـن سـر بـیره پـر الوزولو باندې خورا ډیر مالي او ځاني تاوانونـه هم مقابل طرف ته ورواړول

د لارنس د غیاب په زمانه کښې به د دښمن د الوتلو د الوتکو پـه وخت کښې فوجیان د مځکې په کډهلو او د غـرو پـه غـارونوتل اوښان به ئې دورې همیسته سره تیت و پرك کړه مقصد دادې چه غیرلـه د غومدافعوې تدابیرو څخه ئې بـل د ویلو وړکـار ونکړ بیغمه به د کړدیو سیور وته ناست وو خپل شرابونه و کبابونـه بـه ئې نوشجانول ددغې میاشتې پردوه ویشتمه نیټه باندې لارنـس د یوه قـاصد پـه ملګرې سره د الوتکې پـه ذریعـه لـه ارزق څخـه فلسطین تـه ولاړې او هلتـه ئې تریو لـړ کنفرانسـو وروسـتـه درې

الوتکی له ځانه سره راوستلي په هوايي ډاګ کښې چه ئې د خوړو په وخت کښې حاضرينو ته د جنرل ( الن بای ) د اقداماتو راپور او د فيصل د هدایاتو ليك اروا وه ناڅاپه دوی نابلدی الوتکی ختيځی خواته وليدل شوې ده به لاخلکو ته د خپريدلو او الوتکو ته د الوتلو امرکاوه چه هغو د بمو په اورولو پيل وکړ خدای و چه دښمنان د خطا کيدو له حيثه ئې کوم مالي او ځاني نقصان ونه رساوه او د بريطانيي ګرځنديو الوتکو تيښتي ته اړايستلي په هغه ليك کښې چه د مخه ئې يادونه وشوه فيصل ددې ځای د منصبدارانو له فعاليت او عربو له زيارکښي څخه ډير تشکرکړی او د جنرل (الن بای ) وړاندی تګ ئې د فرات په هغه خوا کښې ستايلی و

مطلب دادئ چه وروسته تردې واقعي نو په هر ځای کښې د نوموړی ليك او نوموړی راپور په متعلق سره له لارنس څخه مسلسلي پوښتنی شروع شوې يوه ورته وويل : "پسله دې څخه به ستاسي ديرغل هدف کوم ځای وی ؟ "

ده جواب ورکړ : "که مي د مشق ونيوئ ګويا د ټول منځنی شرق بام ته وختلم" بل پوښتنه ځني وکړه : "جنرل (الن بای ) به ستاسي سره نوری څه مرستي وکړی ؟ "

ده ورته وويل : " د خوړو او پټرولو رسول به د الوتکی په ذريعه سره کوی " د مازديګر په مهال باندی وروسته تر د غو مناقشو او سياسي تبصرو په داسي حال کښې چه دوی به سره ولاړيدل درې الوتکی ډيری لوړی وليدل شوې چه يوه ئې معلوميدله او د

هغو نورو دووئي تش غرومبي ارويدل كيدئ - داد انګريزانو هنډلي پيج (Handly page) ډولـه الوتكو وې چه د ډيرى لوړى څخه ئې خپلي نخښې بمبار ډولاى شواى جاهلو عربو به يوه و بل ته سره ويل هغه دى د شيطان د خاچنو پلرونه راغلل

د دسمبر پر ۲۸ نيټه باندى يوه فعال جاسوس لارنس ته د تركانو د عمومي پله د مرمت كولو خبر راوړ ده هم سم له دې خبره سره ژر خپل تكړه خلمي پروړ وبهول چه په نتيجه كښې د مقابلى خوانبه ډير نفري سره ژوبل او د ذكر سوى پله تيران ئې پاى پاكه وروسول وايى په دغه شپه زموږ هنډلي پيج ډونو الوتكو پر "مفرخ" باندى هم ښه درنه بمبارى وكړه تاسى ته دى معلومه وى چه په تركانو سره له عصرى وسلو دا ډول ماته كښيوتلې وه چه د دمشق او (ديرى) تر نيژدو حدو پورى ئې د ورو عربو مخ نيوى نسواى كولاى بل د جنوبى سيمو فوجيانو د "تايب" او "مفرخ" د منځني حصي پرکیمپو باندی هسی ګولي واورولي چه له اوسيدونكو څخه ئې د پټيدو ځايونه ورك شوه د "غزالي" او (غذرا) خلكو خوله يوه مخه څخه وسلامي كيدو ته ځانونه جوړول غير له دې څخه د تلګراف د مزو په شليدلو او مهمو ستيشنو په خرابيدو سره د نورو محاذو تركان هم ډير وار خطا شوى وو چه هيڅ د مقاومت طاقت نه و پكښې پاته

د ستمبر د مياشتى پر ۲۹ نيټه باندى چه لارنس داوبو د لرتوب په نسبت سره لښكر شيخ سعد ته كوچاوه په لار كښې له هرى خوا څخه ښه شديد يرغلونه پروشوه مګر ده پخپل پاخه تدبير

سره داسي تر شا ووهل چه هیچا ئي تصور نشواى كولاى دلته نو له يوې خوا ځخه د ګرمۍ او له بلي خوا ځخه د تندي او لوږي له اثره د بعضو عربو په تنديو كنبي د ناميندي آثار ځرګند شول مګر په ښكاره ئي د لارنس له مخه د هغو اظهار نه كاوه په دي وخت كنبي خداى و چه د الوتكي په ذريعه سره جنرال "نيرومو" ديژن د نيژدي كيدو خبر راورسيدئ او د ټولو په زړو روحونه ننوتل - بل په دي وخت كنبي لارنس دتركانو د فوج د نيژديكت په اثر سره ټوله مشران سلا او مشورې ته راوبلل وروسته تر يو لږ ويناو ئي په بعضو پروپاګنډي خبرو سره دوى غولول او ډائي هم ورته واضحه كړه چه موږ ته د ناكامۍ تر ځوړند مغزى مرګ په زرها واره ښه دي تكليفونه تل د ميړو محي ته راځي نالش او شكوه خود سپيو او بي ثباتو خلكو كار دي تاسي چه زړور عرب ياست او كارنامي مو په تاريخ كنبي په زرين ليك سره ليكل شوي دي نو آيا داسي ژر بي حوصلي كيدل درسره مناسب دي؟ دي مهيجو ويناو له يوې خوا ځخه او د زړه سختو تركانو بيرحمانه سلوك له ماشومانو او ښځو سره له بلي ځخه د دوى احساسات ښه ترا په ښور راوستل په داسي حال كنبي چه له هغو ظالمانو ځخه به ئي د خپلو د غو مظلومانو دكسات اخيستلو كوم بندوبست تاړه ناځاپه " شيخ طلال " پر آس باندي سپور راغى او د خپلو كليوالو په تباهي سره ئي د دوى زړونه ښه ورزخمي كړه په عين حال كنبي ئي د لغاز په صورت سره دا هم وويل ( زموږ ماشومان دي په نيزو پيل كيږي او سياه سري

مودی د غم کور بل وهی تاسی خپلی چرچی او د استراحت
خوبونه کوی ) بیرته په ډیر غضب سره بیله دې چه نور سوالو
جواب دی وکړی د قوم خواته ستون شو
دې ناوړه وضعیت لارنس ته زښت ډیر قهر وروستی او د انتقام
اخیستو او ریې تر عربو لاریات په زړه کې بل شو - پسله سلا
او مشورې څخه ئې خپل فوجیان دستی پردرو ډلو باندی
وویشل او هری ډلی ته ئې امر ورکړ چه دې پلا جنګ کښی به په
بندمند سره اکتفانه کوی د سپین ږیروالی . وړوالی . او سیاه
سرتوب پاس به هیڅ نه ساتی فقط هر یو چه ئې په لاس درته
ددغو بیوزلو ماشومانو او ښځو په څیر سره ئې په بدرنګ کوی
سم له دې امره سره کین کښنو عربو له دروخواو څخه پردښمن
باندی داسی یرغل وروړ چه ددې انقلاب له مبنلو څخ، ئې بیاتر
اوسه پوری ساری نه درلودئ وایی د ترکانو په وینو سره ئې د
هغه ځای تولی ډبری سرې کړې او دبندیانو په قتل عام سره ئې
د هر یوه اینه یخه شوه په دې وخت کښی نو په دوی کښی د
اضافه مقاومت توان نه و پاته شوئ مگر د جنرل ( گری گوری )
فوجیانو ئی ښه ملاوتړ له او د (درې) په منځنی سیمه کښی ئی
ددښمن د تول فوج مخ ځنې وگرزاوه په د غه یرغل کښی لارنس
له یوی خوا او مسلمان له بلی خوا څخه ښه فعالیت کاوه پر
دښمنانو باندی مخکه یوه الغه وه په سمه کښی به یوی ډلی او
په غرو کښی به بلی ډلی حملی پرکولې د ستمبر پر ۲۸ نیټه
باندی (دیره ) پای پاکه ځنی ونیول شوه او "دمشق" را سا تر

تعرض لاندې شو غير له يوه وړوکي کلي څخه ئي بل د تيکاو ځای نه درلودئ

اوس نو زمونږ په سوق الجيشي پروګرام کښې غيرله د مشق څخه بل ځای نه و پاته او بل و هريوه ته دا متيقنه وه چه دنومـوړي ښار نيـول د ترکـانو دخپ ځپـانده وضعيـت او استرليائي او انګليسي فوجو د تودې مسابقې له حيثه په سل کښې سل امکان لری

لارنس وايې په خورا سرعت سره و دمشق ته نيژدې شولو هلته موولېدل په فضا د ترکانو د ګدامو د سوځلو په اثر سره تك تور دودنيولې وه له بعضو ځايو څخه لاد اور لمبې پورته کيدلې په ښار کښې يو تورشخول و د شاوخوا وګړو دآزاديدلو په نسبت سره خوښي کولې او دمشرانو شکريه به ئې کله په دعا او کله په چچکو سره ادا کوله

د ستمبر د مياشتي د ديرشمې نيټې په سهار لارنس وروسته ترخونړي جنګ نوموړي ښار ته داخل شو ښاروالو ئې په ډيره ګرمجوشي سره استقبال وکړ ناصر او نوری ترده دمخه ښار ته داخل شوی وو د عربو ملئ جنډې پر حکومتي ماني باندې ورپول شوه د ترکانولوی حامي عبدالقادر نومی عرب سره له وروره ځان بيله شرطه تسليم کړ وروسته د فتحې تر مسلسلو جشنو خلګ په خورا اطمينان سره پخپلو کارو بوخت شوه او خپلو خوا خوږو مشرانو ته ئې د زړه له اخلاصه دعاګاني وکړې د مجرمينو محاکمه علني شروع شوه د اکتوبر د مياشتې پر

درویشتمه نیټه باندی جنرل (الن بای) د مشق ته سره له بشپړو اختیاراتو راولیږل شو هغه پخپل لاس سره د شام د زمری صلاح الدین (ایوبی) پر قبر قومی جنډی ورپوله او دهغه پاك روح ته ئي دعاوی وکړی
د ۱۹۱۸ عیسوی کال د اکتوبر پر (۳۰) نیټه باندی چه ترکانو د اتحادیانو ټول شرطونه بیله کوم قید و شرطه څخه ومنل نو څکه د نومبر د میاشتی پر (۱۱) نیټه باندی د جنګ د بندیدلو اعلان وشو سم له دي اعلان سره لارنس نه یوازی له خپلو مقبوضه ځایه څخه و کوچیدی بلکه د وظیفی د سر ته رسیدو له حیثه څخه بیخی انګلستان ته ولاړئ اوله هغه ځایه څخه پاریس ته د صلحی کنفرانس ته د بعضو توضیحاتو له پاره وغوښت شو هلته دد کوښښ وکړ چه د عربو او شاه حسین پکښی خیر وی مګر هغو بي انصافانو ښی حاصل خیزه مځکی پخپلو منځو کښی سره وویشلی او د عربستان وچ ریګ ئی و دوی ته ددي هومرو ستونزو او زخمتو په بدله کښی ورکړ که بیا هم لارنس دو نستین چرچل په ذریعه سره کوښښ نه وای کړی فیصل ته د عراق د تش نامه پاچهی هم نه رسیدله وایی په دي کانفرنس کښی فیصل په شاهانه شان و شوکت سره یو پرجوشه تقریر هم وکړ چه د بعضو انګریزانو د اګومان شو چه د قرآن د کوم سورت تلاوت کوی د لارنس چه ددي مهم خدمت په زمانه کښی له علم سره علاقه شلیدلي او بعضی نیمګرتیاوی ئي درلودي نو له دي نسبه څخه دوهمه پلا اکسفورډ کالج ته داخل شو ضمناً ئي د

عربو د بغاوت د تاریخ په لیکلو سره هم پیل وکړ تاسی ته به معلومه وی چه د انګلستان حق پرسته زمامداران د هر چا د خدمتو ډیر قدر لری او سم له خدمته سره دوچنده معاوضه ورکوی نو ځکه ئې ددی خدمتګار د لوړو خدمتو نقدی جایزه هم هیره نه کړه او زموږ د ګران ټولواك په مبارك لاس سره وروسته تر زیاتو قدردانیو ورتسلیم شوه لارنس ئې په شکر یه کښی وویل زه خپل خدمتونه د وطن پر حقیقی مور باندی نه خرڅومه او تر هر رنګه لوړی جایزی ستاسی رضائیت ماته لویه جایزه ده

وایی د لارنس قدردانی په امریکا کښی هم ډیره کیدله او لیکونکو به ئې پر خدمتو باندی بیلی . بیلی تبصری کولی همدغه سبب و چه د (وس ګارډن ) په سینما کښی د عربی انقلاب په فلم کښی د لارنس خدمتونه په ډیر جذاب صورت سره وښودل شوه د انګلستان دې لوړ خدمتګار به د فراغت په وخت کښی تل سیاسی کتابونه مطالعه کول او کله به ئی له مشهور ناول لیکونکی (ټامس هارډی ) سره علمی مباحیثی کولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲ برخه

## ( لنډيز )

# لارنس په شاهي پوځ کې برتي شو

لارنس په ۱۹۲۲ عیسوی کال کښې په شاهي هوايي فوج کښې برتي شو د ۱۹۲۵ کال د اګست په میاشت کښې ئې د خدمت موضع ورتبدیله کړه او نوم ئې له لارنس څخه په " شاه " سره و او ښتي په سرحد کښې د " سید کرم " الفاظ هم پوري ملحق شوه د ۱۹۲۶ کال د دسمبر په میاشت کښې وروسته تریولړ نورو خدمتو هندوستان ته ولیږل شو په کراچۍ کښې د هومر د ډرامې د ترجمې په نسبت سره چه د بعضو امریکا یي منابعو له طرفه څخه فرمایش ورکړه شوی و ټال شو بیائې د خیبر میرام شاه نومې ځای ته سفر وکړ او هلته ئې د سرحد د ښې هوا په نسبت سره استوګنه غوره کړه دا هغه ځای و چه زړورو اوسیدونکو یې خپل زړورتوب او میړانه په سکندر غوندې مقتدر ټولواك لاومنله او دوړاندې تګ اجازه په ټوله هند کښې خپره شوه او خلګو پسله دې څخه د هوايي فوج دیوه معمولي سپاهي په سترګو نه ورته کتل بل په دې تشه افواه سره له یوې خوا څخه د افغانستان حکومت ته سخت تشویش پیداشو او له بلې خوا څخه د سرحد ډنډورچیانو لیکونکو غلطو پروپاګنډو ته ملاوتړله په اخبارو او یا مجلو کښې به ئې د قلم په تیره څوکه سره سخت ، سخت وارونه پرکول د کابل په دربار کښې زمونږ سفیر د هغه حکومت له دغوپوښتنو څخه چه ستاسې په فوج

کښې داسې زبردسته سړی ولې د معمولي سپاهي په حیث سره کار کوي یا د بریطانیې دولت آیا دا جاسوس و سرحد ته ددې له پاره رالیږلی دی چه زمونږ پښتنو په منځ کښې دبدبینې درزواچوي او بیا مود استعمار په منګلو کښې ګیر کړي سخت تنګ شونو ځکه ئې لندن ته د خواشینې ځو متواتر لیکونه واستول او ټینګ خواهش ئې وکړ چه یادې ددې افواهو او توهماتو تردید په معقولو د لایلو سره وشي او یادي فوراً لارنس د سرحد له خدمته ځخه ایسته کړه شي

د انګلیستان صلح دوسته حکومت له افغانستان سره د ښو روابطو د ټینګولو په ملحوظ لارنس په ۱۹۲۹ عیسوی سنه کښې دیوې میاشتې له پاره مرکز ته وغوښتې او هلته خینو اخبارو دده په باره کښې د دنیا بعضو منابعو د اشتباهاتو رفع په ملحوظ سره له دارالعوام څخه لاندنې پوښتنې وکړې

۱ - د فوج د برتې کولو په خین کښې ولې "شاه" د کرنیل لارنس په نامه سره موسوم و ؟

۲ - آیا دغه افواه حقیقت لري چه انګلستان ته نقلي لارنس راغوښت شوئ دئ او اصلي لارنس په هندوستان کښې دی؟

۳ - افغانستان دده په باب کوم - کوم شکایتونه لري ؟

۴ - له تختوتاجه څخه د امان الله خان د ایسته کولو په دسیسه کښې کرنیل لارنس لاس درلودئ که یه ؟

۵ - هندوستان ته دی د کوم خدمت له پاره رسما ولیږل شو او
که پخپله د سیاحت په توګه سره ولاړی ؟

سر بیره پردې ټولو وجوهاتو باندی دی دا تاسی ته معلومه وی
چه د لارنس ژوند د یوی معمی شکل پیدا کړی و چه څرك ئی
چا په صحیح صورت سره نه شوای ایستلای دنیړدې ختیځ او
لیری ختیځ وګړو ( هوا بازشاه ) لارنس نه باله او ویله به ئې هغه
په انګلستان کښی دئ چنیان بیا پردې عقیده و چه "لارنس" په
پټ صورت سره په هانګ کانګ کښی اجراآت کوی مګر
انګریزانو به بیا ویل چه هغه په مونټ متین کښی مقیم دی
ځینو اخبارو لیکلی دی چه دی په یوه وخت کښی په درو ځایو
کښی ولیدل شو لیری ختیځ به ویل په چین کښی دی او روسانو
به ویل په روسی ترکستان کښی جاسوسی کوی غواړی چه د
مرکزی سویټ د حکومت او د ترکستان د جمهوریت په منځ
کښی د فشار اوربل کړی هالیندیانو به دیوې غلطی افواه په
استفاده سره ویل چه لارنس ددې کال په سر کښی د الوتکی د
لویدلو په حادثه کښی مړ شو او دا چټی اوازه د ۱۹۳۰ کال د
نومبر تر میاشتی پوری یقینی وه مګر د روس حکومت د بعضو
منصبدارانو په محاکمه کښی دا واضحه شوه چه نوموړی په
هوایی فوج کښی د جاسوسانو مشر دی په لندن کښی د ۱۹۲۷
-او ۱۹۲۸ کال د پټو مجلو د منعقدیدلو لوی محرك و دوی
غوښته چه په روسیه کښی د انقلاب پیدا کیدلولازی و پلټی

د برطانيې فضايي وزير د روس ددې الزام په ترديد کښې خپل پارليمنټ ته داسې توضيحات ورکړه د ۱۹۲۶ کال د دسمبر د مياشتې پر اومه نيټه باندې لارنس هندوستان ته وليږل شو او د ۱۹۲۷ کال د جنورۍ پر دوهمه نيټه باندې هلته ورسيدئ د ۱۹۲۹ کال د جنورۍ تر دولسمې نيټې پورې هلته تال شو بيا د ۱۹۲۹ کال د فرورۍ پر دوهمه باندې بيرته انګلستان ته راوغوښت شو د هند دملازمت په زمانه کښې کوم رخصت نه دئ ورکول شوئ نو د بعضو ملکو بې مغزه وګړي په څه اسناد چټې تهمتونه پروايي اوپه يوه و بل ځاى کښې ئې ګنې

وايي په ۱۹۳۱ کال کښې د ترکيې مذهبي انقلاب دده تحريک سره پيښ شو د ۱۹۳۲ کال د جولايي په مياشت کښې جرمنيانو دې د خپلو کورنيو فسادو محرک باله او په ښکاره ئې پر بريطانيې باندې دا الزام ولګاوه چه د کرنيل لارنس په واسطه سره تاسې له (تبته) سره يوه پټه معاهده کړې ده د ۱۹۳۳ کال د مارچ په مياشت کښې له وظيفې څخه سپکدوشه شو اما په بعضو کارو کښې به د سلا او مشورې له پاره غوښته کيدئ په ۱۹۳۵ کال کښې يې له سياسي کاره څخه پرمخ ګوښه ګيري مختاره کړه او په علمي تتبعاتو بوخت وُ

دې پر ۱۳ نيټه باندې د موټر سايکل د ټکر په اثر سره سخت ژوبل شو او پسله درو ورځو څخه ئې په فوجي شفاخانه کښې روح ورکړ د مرګ په ورځ ئې ټولې جنډې نيمې ځوړندې وې او د ښخيدو په مراسمو کښې ئې د ګډون له حيثه ټوله دفترونه بند

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه د انګلستان رسمي او غير رسمي اخبارو ئې په ډير تاثر سره د مرګ خبر خپور کړ او پخپلو سرمقالو کښې ئې دده دسترو خدمتو يادونه وکړه په مختلفو محفلو کښې ئې پرويرجنو مرثيو باندې د حسرت او ښکې توی شوې پنځم جارج ئې دورور په عنوان سره د تعزيت ليك صادر کړ او په هغه کښې ئې داډه ورکړ چه ستا د خدمتګار ورور د زحمتو خاطرې زموږ له زړو ځخه نه وزي او تر ابدالابده پورې به ئې نوم د انګلستان په تاريخ کښې ژوندې وي زه دده له بې آلايشو خدمتو ځخه ډير ممنون يم او په نامراده مرګ سره ئې ستا سره يو ځای اوښکې تويوم پوهيږم چه په دې لويه ضايعه سره د انګلستان د هر فرد زړه غمجن شوئ او سترګې ئې اوښلنې شوې دی مرګ يو طبيعي شی دی او د هر چا پر کور ميلمه کيږي هغه مړګ د وياړ مرګ دی چه د اجتماعي نظام د سعادت د تامين په لار کښې وشي

"پای"

PROPERTY OF ACKU 11691

PROPERTY OF ARIC Established 1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

ARIC
B
1.249
EDW
11691

# LAWRENCE
# OR
# PIR KARAM SHAH OF AFGHANISTAN.

**IN VIEW OF AN ENGLISHMAN**

**PASHTO TRANSLATOR:**
**NAJEEB "KANDAHARAY"**

**PUBLISHED BY**
**Sapi's Center For Pashto Research**
**(S.C.P.R.D)**
**ADDRESS: FLATE NO: 314, 3RD FLOOR. GUL-HAJI PLAZA UNIVERSITY ROAD, PESHAWAR - PAKISTAN**
**Ph& fax: 091 – 5704506**
**Email: S.C.P.R.D psh.paknet.com. pk**

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library